Jan-20, 1958

کابل

د ۱۳۳۶ کال د دلوی (اول)

د ۱۳۷۷ کال د جمادی الثانی (۲۹)

د ۱۹۵۸ ع کال د جنوری (۲۰)

په دی گڼه کښی :

د خوشحال بابا نثر * انتقام

تاریخ څه شی دی؟؟ * پښتانه د نورو په...

اعتراف * او ښکی * شمع * باغوانه

فرض العین * حقوق او اجتماعیات ...؟

کتاب : د بنگ مسافری —

ولولی.

دلته په ۲۳ مخ کښی (شیلتان)

او د نکل مأخذ ښول گیږی

(۱) شیلتان بر گډیر په ۱۲۵۸ھ کال د مکناټن) تروژلی وروسته په کابل کښی د انگلیسی لښکرو سیاسی مشرؤ. او د انکل د علامه سید جمال الدین افغان د (تتمة البیان فی بیان الافغان) کتاب له ۱۳۳ مخه څخه راخیست شوی دی.

2 - APR 24
Copy 1958

پر له پسی گڼه (۴۴۹)

راغلی لیک

د پښتو ټولنې رئیس په حضور کښې د مرحوم، ملنګ جان د قبر په خصوص خپل احساسات په عرض رسوم:

ګرانه سیادت منه عزیزه مامخکښې دمرحوم دمرګ په دویمه ورځ د کابل راډیو په نامه چه دتسلیت تیلګرام کړی وه، اوپلښې مې زیاته کړې وه چه دده دقبر په نسبت که چیرته ،په پښتنې تجارتی بانک کښې بوحساب خلاص شي،حاضر یم چه دده دقبر خرڅ اودصغیرا نو دتامین دپاره،دبسپنې په حیث په ډیره خوشالۍ برخه واخلم آو شاید چه ډیر پښتانه هم دې خبرې ته حاضرشي،

دادې بیازه هغه تیلګرام تعقیب کوم آوهیله ښکاره کوم زما دغه مضمون د کابل په ګرانه مجله کښې په لمړۍ مخکښې نشر او ځاې ورکړشي په ډیر احترام

«محمدانور تاجر مومند گودرغاړه قندوز»

(۲۷ کال)

(۲۰) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

دامتیاز خاوند: پښتو ټولنه

دپښتو ټولنی مشر، گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر ! م، د، «ژواك»

پته : کابل. نادر پښتون واټ دیل خشتی دیله مقابل دتیلفون لمبر (۲۱۲۹۱)

شاعر په بله ګڼه کښې ښول کېږي
تاسي کولای شي، چه له نازک خیالیونه
دشعر خاوند و پیژندلای شي. ؟!

مینه او وفا

به سپین پلو کی چه ئې سپینی خولې پرېښنا کوله
ماوې سپوږ مۍ په سپینوواورو مسخولا(۱) کوله

چه په سرو لبو ئې خبرې وریتېدې لکه زړه
به تورو ستر ګوئې دمینی زغېدا کوله

حکم ددوداو ددستور ووچه مخ پټ وساتی
دې لکه شمه په پانوس کی تجلا کوله

داوږ دو ستر ګوله اوږ دو کتوئې پوه شوم دومره
که نصیب هرڅو جفا کار وو دې وفا کوله

خدا بزده چه دې به زما په سرولېمو کی څه پلټل ؟
مائې په ستر ګو کی دمینی تماشا کوله

رڼه رڼه لېمه او ښتل رڼې اوښکی پکښی
چه لکه زخم خندېدل او کې ژړا کوله؟

لکه زاړه می په شیشه کی، ناقراری مینی
ددې په پاکو ښکلو اوښکو کی نڅا کوله

ها د پردی کتل می مه ووزه دزړه له پردې
چه په پرده کښی ئې د مینی تمنا کوله

خدایه تاغو ښتې مګر مانه داعزلی، ګنه :
مائی په یوې مسرۍ دونی اکتفا کوله

---

(۱) مسخولا = مشغولا

دخوشحال بابا نثر

څوك چه خوشحال خټك پیژنی او یائی دده نوم اورویدلی وی هغه داهم منی چه خوشحال خټك دپښتو ژبی لوی نومیالی شاعر تیر شوی دی او په پښتو شعر کښی دجامع کلام خاوندو، خصوصا پښتانه او په تیره بیا پښتانه لیکوال خوئی دپښتو په شعر کښی دپښتو ژبی پلار گڼی.

مگر لږ ملگری به پیداشی چه خوشحال بابا ته لکه څنگه چه په شعری دنیا کښی په کوم حیثیت قائل دی دپښتو په نثر کښی هم ور ته هغسی مقام ور کړی

ددی خبری یو لوی سبب دادی چه دخوشحال بابا منظوم آثار ډیر چاپ شوی او دپښتو دادب هر شوقمن کتلی دی خو منثور آثار ئی یا له سره لاس ته نه دی راغلی او یا که راغلی وی چاپ شوی نه دی او که یو نیم چاپ شوی هم وی هغه به هم څو محدودو لوستونکو کتلی او لوستلی وی نو له دې کبله که دخوشحال بابا دادبی ژوند پردې اړخ هم څه نه څه رونا وا چوله شی بی گټه به نه وی.

دخوشحال بابا تر نثره دمخه چه کوم نثرونه په پښتو کښی لیکلی شوی هغه ټول مذهبی نثرونه دی چه تر ټولو مهم دسلیمان ماکو تذکرة الاولیا نثر دی چه په (۶۱۲ھ) سنه کښی یعنی اووه سوه او څلور شپیته کاله پخوا د قندهار په ارغسان کښی لیکلی شوی دی او دپښتو دادب لومړی نثر دی چه تر اوسه لیدل شوی او څو زړې پانی ئی لاس ته راغلی دی.

دسلیمان ماکو تر نثرو روسته بل مشهور نثر دپیر روښان دخیر البیان نثر دی چه بر سیره پر پښتو پخپله دمؤلف له خوا په عربی، اردو او فارسی ژبو هم اړول شوی دی، او په لسمی پیړی کښی دپښتو ژبی مهم نثر باله شی

دخیر البیان تر نثرو روسته دآخون درویزه دمخزن الاسلام نثر هم شهرت لری چه د پیر روښان دخیر البیان په مقابل کښی منځ ته راغلی او دخیر البیان د نثر معاصر دی.

داهغه مشهور نثرونه دی چه د خوشحال بابا تر دورې پوری دپښتو ژبی په تاریخ کښی شهرت لری او دهغو وختونو دلیکوالو له خوا پیروی شوی دی.

خودا ټول نثرونه مذهبی رنگ لری چه یا دسلیمان ماکو دنثر په شان لکه څنگه چه دهغه د کتاب له نامه څخه څرگندیږی دپښتنو دروحانیونو او شیخانو دژوند حالات دی، او یا دپیر روښان او آخون درویزه دنثرونو په څیر دینی عقاید او اصول بیانوی.

دسلیمان ماکو نثر که څه هم دپیر روښان او آخون درویز دنثرونو په شان مقفی او مردفی جملی نه لری، خو بیا هم دخیر البیان او مخزن الاسلام د نثر په څیر دجملو ان کمو ترتیب او ترکیب ئی دعربی ژبی تراغیزی لاندی راغلی دی.

مثلاً دسلیمان ماکو د نثر څو جملې دادی:

«... اما بعد زه غریب خاوری سلیمان زوی د بارك خان ما کوسا بزی چه په ویا له دارغسان او سېږم او په دې مزکو پائېږم. په سن دولس شپږ سوه دهجری تللی وم او دپښتون خوا په راغو او کلو گرځیدم، او مرا قددا اولییا او واصلینو می پلټل او په هرلوری می کاملان موندل او دد وی په خدمت خاکپای وم، او هر کله په سلام ورته ولاړ...» دپیر روښان دنثر نمونه په دې جملو کښی و گوری:

«... گوره د دغی زمان آدمیان ـ غواړی دنیا او هرچه پکښی وی ـ مشغول دی ډېر آدمیان ـ ځینی په کرلو یا په بازرگانۍ یا په پوند گلۍ ـ ځینی په نور نور چار مشغول که آدمیان ..» د آخون درویزه د نثر نمونه دا جملی دی چه وائی:

«... اهل حق دی ویلی چه بی شك صانع قدیم دی ـ پرده گواه دی دا مختلف چاری ـ دعاقل حجت دغه دی چه هیڅ کالی بی استاده نه رغیږی دا اشیا واړه حادث دی له نابوده پیدا شوی هرچه و شو یا به شینه او دحق ذات صفات قدیم دی کل اشیا له قدرته پیدا کېږی...»

دپیر روښان تر سبك ور وسته بیا دخوشحال بابا تر وخته پوری دپښتو په نثر کښی کوم بل یو مهم سبك منځ ته نه دی راغلی او یوازی دخوشحال بابا سبك دی چه دپښتو نثر ته ئی یو نوی رنگ ور کړی او دپخوانیو ذکر شو یو نثرونو څخه ئې را جلا کړی دی.

دخوشحال بابا نثر نسبت پخوانیو نثرونو ته دا امتیازات لری: لومړی:ـ دخوشحال بابا نثر تر ډیره حده دپر دویو (عربی او فارسی) ژبو دترکیبونو له اغیزی څخه پاك دی، او د پښتو داوسنی نثر ترکیبونو ته نژدی دی.

دوهم:ـ دخوشحال بابا په نثر کښې مقفی جملې چه د پخوانیو نثرونو امتیاز باله کیده ډېری لږی لیدلی کیږی.

دریم:ـ دخوشحال بابا نثر ډېر روان ساده او آسان دی تعقید او پیچلی جملې پکښی نشته.

څلرم: دخوشحال بابا په لیکنو کښې مبتدأ او خبر سره نژدی دی، او ږدی او ږدی جملی پکښی ډېری کمی دی.

پنځم:ـ دخوشحال بابا دنثر یو بل امتیاز چه دده سبك له پخوانیو نثرونو څخه جلا کوی هغه دا دی چه پخوانی نثرونو لکه چه دمخه وویل شوه یوازی مذهبی رنگ درلود او هغه دینی مطالب راوړی دی چه دروحانی دنیا سره اړه لری، خوخوشحال بابا بر سیره پر مذهبی مضامینو نور ډېر اجتماعی گټور مطالب ئی هم بیان کړی دی چه همدانن ورځ په ډېری آسانۍ اولږ تغییر سره زموږ دښو نځیو په پښتو کتابونو کښی انتخابیدی او اخیستل کیدای شی.

دخوشحال بابا په منثورو آثارو کښی یوه رساله هم «دستار نامه» ده چه په (۱۰۷۶ هجری قمری) کال کښی ئی په زندان کښی لیکلې او په «۱۹۵۲ عیسوی» کال د «ادارهٔ اشاعت سرحد» له خوا په مرکزی پښتونستان کښی چاپ او خپره شوی ده.

دارساله مقدمه، دوه بابه او یوه خاتمه لری، په لومړی باب کښې شل هنرونه او په دوهم باب کښې شل خصلتونه او په خاتمه کښې دحماقت نښې لیکلی شوی دی دلومړی باب دهنرونو عناوین دا دی:

۱- دلحان دمعرفت هنر.
۲- دکسب او کمال هنر.
۳- دخط هنر.
٤- دشعر هنر.
٥- دتیر اندازی هنر.
٦- دلامبو هنر.
۷- دآس دسپارلو هنر
۸- دښکار هنر.
۹- دشجاعت هنر.
۱۰- دسخاوت هنر.
۱۱- ازدواج او معاشرت.
۱۲- داولاد روزنه.
۱۳- دخدم او حشم تادیب.
۱٤- دمعیشت اسباب.
۱٥- دزراعت هنر.
۱٦- دتجارت هنر.
۱۷- د نسب تحقیق.
۱۸- دموسیقی هنر.
۱۹- دشطرنج هنر.
۲۰- دنقاشی او تصویر هنر.

ددوهم باب دخصلتو عناوین دادی:

۱- دمشورت خصلت.
۲- دعزیمت خصلت.
۳- دخاموشی خصلت.
٤- دراستی خصلت.
٥- دشرم وحیا خصلت.
٦- دخلق نیکو خصلت.
۷- دمروت خصلت.
۸- دعفو و کرم خصلت.
۹- دتمیز خصلت.
۱۰- دعدل وانصاف خصلت
۱۱- دتوکل خصلت.
۱۲- دخپل نوازش خصلت.
۱۳- دخوف ورجا خصلت.
۱٤- دملک دانتظام خصلت.
۱٥- دهمت خصلت.
۱٦- دحلم خصلت.
۷- دغیرت خصلت.
۱۸- دحزم او احتیاط خصلت
۱۹- دطاعت دورع خصلت.
۲۰- داستغفار خصلت.

دخوشحال بابا دنثر نمونه:

اوس د دې رسالی څخه لحینی مطالب دلته دنمونې په توګه راوړو، او تر هرڅه دمخه دمحترمو لوستونکو توجه دوو نکتو ته ګرزول غواړو چه یو دنثر روانی اوسلاست او بل دخوشحال بابا دتفکر طرز دی چه داد واری نکتی څومره او سنی عصر ته ورته او نژدی دی، دی بخپله هم درسالې په سر کښې لیکی: «پخاطر فاتر ورسیدل چه یوه موجزه مختصره رسالـه پښتو کرم انشأچه عبارت ئې روان وی، قریب الفهم وی ...».

خوشحال بابا دعلم په باب کښې وایی

«علم بلغت کښې زده کولو ته وایی هرچه وی اوس پاصطلاح کښې تحصیل دعلم عربی فارسی وغیرو ته چه څور لس علـوم شهرت لری علم وائي - هر چه داعلوم تحصیل کا، واره ولولی هغه دانشمند، فقیه، فاضل، عالم او ملابا له شی هغه چه بخپلـه زمانه کښې بدا علـوم کښې دخواب څوك نه لری هغه عالم العلما باله شی، مخدوم الملك باله شی علم دادالهی دی فیض نامتناهی ددواړو جهانو نو لویی بزرګی پعلم کښې ده، دخدای شناخت چه سر مـایه د واره سعادت دی په علم کښې دی بیت:

چو شمع از پی علم باید گداخت
که بی علم نتوان خدا را شناخت

د پیغمبرانو متابعت پعلم کښی دی - هرچه علم بیا مومی میراث بیا مومی د پیغمبرانو - العلمأ ورثة الانبیأ یعنی پځای کښینی د پیغمبرانو - دا شرف بزرگی د علم ته فکر کړی بویه چه تر کومه حده ده چه د علم څښتن جانشین د پیغمبرانو شی داخو د دین لویی ده - د دنیا لویی هم پعلم کښی ده - که نداف او جولاوی چه دانشمند شی، بادشاهان ئې تعظیم او تکریم کا - عالم واړه د ده خدمتگار شی، که کیمیاده که سیمیاده که ریمیا که نجوم دی که طب دی که حکمت دی داواړه په علم کښی دی څورلس علومه دانشمندانو د تحصیل د پاره شمارلی دی اما تر داډیر دی"

غرض داچه د دواړو کونو مراد مقصود، کامرانی او کامیابی په علم کښی ده ذره حبه له علمه بیرونه نه ده - خدای دی توفیق وهرچا ته ورکا چه تمام عمر په تحصیل د علم صرف کا او کنه هو نبره خودی وی چه محروم پاتو نشی چه د سړ یو له حسابه ووزی د څارو یو په حساب باله شی عام کالانعام شی بل اضل د قابلیت له دایرې نه بیرون پریوزی - که بادشاه زاده وی چه په نقصان کښی پاتو شی د دین دنیا له دولته ناامید شی - که روستازاده وی چه د علم له حکمته ئې بخره وشی د دین د دنیا سعادت لویی بزرگی وگټی - مثنوي :

وقتی افتاد فتنهٔ در شام
هر کسی گوشهٔ فرا رفتند
پسران وزیر ناقص عقل
بگدائی بروستا رفتند
روستا زادگان دانشمند
بوزیری بباد شاه رفتند

هغه چه وایی چه د هر چا مدار په بخت دی بدا کښی هیڅ شك نشته اما تفاوت په پوهه کښی دی دانا بویه چه په دار موز وپوهیږی . . . . هرڅوک چه علم قابلیت حاصل کا هم دغه نخښه د بخت د سعادت ده چه په خلاف وی نخښه د بد بختی د نکبت ده هرچیرته بخت تابع د هنر دی هیڅ هنرمند چا ذلیل لیدلی ندی هیڅ بی هنره چا عزیز لیدلی نه دی فرد :

وجود مردم دانا بسان زر طلا است
بهر کجا که رود قدر و قیمتش دانند

بې هنر که هرڅو بخت پسر کوزوی اعتبار نه لری :

که ناستی د ناقابل پسر پر پاس دی
پمعنی کښی خندانخان شاه عباس دی

(نور بیا)

دشاغلی محمداسحاق « ظفری » ترجمه

انتقام

ام جعفر دشورلسم سپوږمۍ وه چه دمدینې منورې دافق څخه راختلی وه ددې درنا څخه نه یواځې دمدینې منورې دوګړو ستر ګې روښانه شوې بلکه دجزیرة العرب دګردو وګړو ستر ګې ئې بریښولې وې .

ام جعفر دپسرلی یو وې نازك ګل وو، چه دعبدالله بن عرفطه په بڼ کښې ئې ستر ګې رونې کړې وې اود عربو دماغونه ئې معطر کړې وو ځوانی اوښکلا چه سره یوځای شی که غضب نه وی نوځه شی ئې برلی بیاداسې ښایست چه دهغه پوره احساس نه دشاعرزړه کولای شوی او نه ئې دمصور نظر دهغه صحیح جائزه اخستلای شی .

باد که زرځله په خپل ګرداوغبار دسپوږمۍ درنا دپټیدلو کوشش وکړی بیاهم دسپوږمۍ ځلیدونکی شغلې دهغه له غباره څخه ځان تیروی اوزړونه روښانه کوی دام جعفر مور اوپلار کوشش وکړچه داداغیارو له ستر ګو څخه پټه کړی نوئې دستر (پردی) په بند کښې واچوله دهغې عالم ګیر ښایست بیاهم شهرت پیدا کړ اودامراو اولویو خلکو په محفلونو کښې ددې دښایست او ښکلا خبری کیدلی . د هغې دنامه په اوریدلو سره به نه یواځې ځوانانو ساره اسویلی ایستل بلکه زاړه به هم ددې د صفت په اوریدو له ارمانو سره مخامخ کیدل .

څنګه چه انسانی شرافت له بده کرداره اوبدچلنده انسان څخه انزوا اختیاره وی نوعرب هم ددې پرنسیب له مخې له هغې نجلۍ سره چه نرو دیدلو پخوابد نامه شوی وی نکاح معیوبه ګڼی اودځان رسوائی ئې بولی .

ام جعفر په داسې زمانه کښې پیداشوی وه چه په هغه وخت کښې به دعربو شاعرانو د کومی

خیالی او فرضی معشوقی تعریف نه کاوه بلکه یوه حسینه او ښکلی پیغله به ئی د ځان گرځوله او دخپل محبت دمینی او سوز په اشعارو کښی به ئی دهغی نوم ستایه او خپله مینه به ئی پری ماتوله .

ام جعفر چه دخورا ډیر ښایست سرمایه داره وه ، هم دمینی داشعارو له اغیزی څخه خلاصه نه شوه ، او دهغه وخت نامتو شاعر (احوص) بی له لیدلو څخه دادخپلی شاعری موضوع وگرځوله ، او یواځی دښایست په اوریدلو ئی له هغی سره دمینی او محبت اظهار شروع کړ .

احوص به شپه ورځ دام جعفر دښایست او جمال ستاینه کوله او دهغی دبیلتانه دغم فرضی ربړونه به ئی بیانول مگر په دې ئی هم بسنه ونکړه او دام جعفر دملاقاتو کیسی ئی هم خپل شعر کښی په ډیر ویاړ او فخر سره ستایلی .

احوص دعوامو خورا مشهور شاعر وو له دی کبله دده اشعار ژر تر ژره دخاصو وعامو غوږونه ورسیدل او دا حوص او ام جعفر په مبالغه لرونکو او خیالی ملاقاتو چه ده به په خپلو شعرو کښی ویل ټول خبر شول . ټول خلك په ام جعفر بدگمانه شول او هغې ته به ئی دشك په سترگو کتل خبره تر دی ځایه ورسیده چه دعربو په سوسایټی کښی هم ددی دعصمت او پاکی په لمن تورتکی و لگیده .

ددغو کیسو په اوریدلو دام جعفر خپلوان خوراخپه شول ځکه دوی هم دا گمان وکړ چه ښائی چه ام جعفر به له احوص سره مینه لری او هم به ئی له هغه سره پټ پټ ملاقاتونه کړی وی .

دڅاښت وخت وو چه دام جعفر ورور (ایمن) کورته راغی ، خورا خپه و او له ډیری خواشینی څخه ئی څیره تکه توره شوی وه دډیر خفگان په حال کښی د کور په باندنی حصه کښی کښینا ست . دورور خپگان دمعصومی او محبت کونکی خور حواس پریشانه کړل خپل گران ورورته ور نژدی شوله او په ډیره مینه ئی پښتنه ځینی وکړه :

« گرانه ورو ره مزاج شریف دی ښه دی؟ »

« مزاج به می خاوری ښه وی ، په بی خبره ام جعفر باندی ایمن په غوصه شو . چه ته ژوندی ئی ماته به آرام پیدا نه شی .

تن چه زه کومی خوانه ځم په ما پسی اشار تونه کیږی ، په لیاره نه شم تـلای ، دوستان او خپلوان مسخری راپوری کوی ، د ښمنان پیغورونه را کوی ، او ته خوشحاله گرځی ، چه له احوص سره مینه لری او په پټه کښی له هغه سره کتل کوی . ددی خبرو د کولو په وخت کښی دایمن بدن په لرزه کښی وو .

دورور د وینا په اوریدلو ام جعفر په ژړا وویل: «قسم دې په هغه پاك ذات چه ګرده نړۍ ئې پیدا کړې ده، او د ټول مخلوق له زړونو څخه په ښه توګه خبر دی، او قسم دی په هغه خدای چه یوه ورځ مونږ ټول د هغه حضور ته تلونکی یو او د هغه په حضور کښې دریدونکی یو، ترنن ورځی ما د احوص څیره نده لیدلی، او زه یقین لرم چه احوص به هم زما څیره څه بلکه زما سیوری هم نه وی لیدلی، دا ګرد هغه شرارتونه دی چه ما بې ګناه بدنامه وی.

دایمن تسلی ونه شوه او ام جعفر ته ئې وویل: «احوص داسی اشعار وائی، چه له هغه څخه څرګندیږی، او هم خلك کلك یقین لری چه ته له احوص سره محبت لری او هم له هغه سره پټ پټ ملاقاتونه کوې، دی کله ستا سترګی ستای او وائی، د ام جعفر د نازد کتو غیشی زما زړه سوری کړ، کله وائی چه د هغی له تبسم څخه داسی بریښنا پیدا کیږی چه زه ئې پری سوی ایرې کړم، کله وائی چه زه د هغی تورو ویښتانو او غوږو اور بلونو مفتون کړم، او هم کله کله په خپل شعر کښی ستا تګ ستائی.

ام جعفر ایمن ته پوره تسلی ور کړه. ایمن د دې له تسلی څخه خورا متاثر شو او احوص ته ډیر په غصه شو. احوص ته ئې د یوه سړی په لاس داسی ځواب ورولیږه: چه له خپله ناوړه حرکتو څخه وګرزه، یوه معصومه او شریفه نجلۍ مه بدنامه وه، او که له خپله بې ځایه اونا دودو کارونو څخه ونګرځی، نو د سختو ربړو د ګاللو لپاره تیار واوسه.

د داسی سخت پیغام په رسیدو هم احوص د خپل زړه تکل بدل نکړ، او د پخوا په شان ئې د ام جعفر د فرضی ملاقاتو کیسی پخپلو شعرو کښی ستایلی. او د هغی د مینی په کیسو به ئې خپل شعر رنګین او د کتلو وړ کړ.

د احوص له رویی څخه ایمن ډیر په غضب شو او بې له دې چه هغه د خپلو بدو په سزا ورسوی، نو رئی هیڅ د خلاصون سو به ونه لیده. نو د وخت په تلاش کښې شو.

د دی پیښی خبر د مدینی د حاکم حضور ته ورسیده، حاکم د کیسی په اوریدلو خورا متاثر شو، او هغه په دې فکر کښی شو چه دا ذاتی عداوت به امن عامه ته تاوان ورسوی او قبائلی جګړی به بیا پورته شی. ده وروسته له ښه فکره احوص او ایمن دواړه خپل حضور ته وغوښتل او ورته وئی ویل: ستاسو په منځ کښی جګړه ده، نو زه تاسو ته اجازه در کوم زما په حضور موهر څه چه زړه غواړی یو پر بل وکړی. د دوی دواړو په منځ کښی جنګ شروع شو. په اول کښی احوص خورا جګړونی ښکاریده. په اخیر کښی غړند شو. احوص د خیالی نړۍ یو ارام خوښونکی شاعر وو، د ده له جګړی سره څه تعلق. له بلی خوا زورور او باتور ایمن چه په ټول بدن کښی ئې د کورنۍ درسوا کیدو له امله د غیرت وینی خوتیدې په ډیره مړانه

وجنګیده او څرنګه چه ئی زړه غوښتل له احوصه څخه ئی هغسی بدله واخسته. داحوص بدن ټول زخمی شو او په بدن ئی وینی روانی شوی، پس له څه ځنډه دمدینی حاکم احوص ځنی خلاص کړ او دواړه ئی وبیرول او وئې ویل له دینه وروسته که مو بو دبل په خلاف څه تعرض وکړ خورا سخته سزا به در کړم.

په همدې وخت داسی ګمان کیده چه احوص به له خپلو حرکاتو څخه وګرزی، منګر هغسی و نه شوه.

یوه ورځ دمابنام وخت وو چه احوص دخپلو همزولو په یوه لویه ټولګی کښی ناست وو، او د پخوا په شان ئی پخپلو شعر و کښی دام جعفر د بنایست ستاینه کولی، یارانو ئی دده په نازك خیالی دزړه له کومی شاباش وایه، او دنو یو ځلمو زړونه محض د بنایست په اندیښنه خوشحاله وو.

دزلمیانو دامحفل خورا ګرم ووچه یوه مخ پوتی نجلی راغله او احوص ته ئی په نرمی وویل: تا چه له ما نه وزه اخیستی وه دهغی قیمت دی لاتراوسه پوری ندی را کړی او په دی ورځو کښی زما لاس دیر تنګ اوزما حال دنه ویلو وړ دی داشپی پرمادیری دمفلسی او ناداری په حال کښی تیریږی، نودخدای (ج) دپاره زما هغه واجب الادا پیسی را کړه، چه زه خپل ځان پری وچلوم او دهغو په واسطه یو څو ورځی له لاس تنګی څخه ځان خلاص کړم.

«ما له تا څخه بالکل وزه نده اخستی، احوص په غوصه سره وویل، او نه ستا پیسی پرماشته.

«نن دی زه خواره ولیدم ځکه انکار کوی منګرزه به له تا څخه خپلی پیسی ورم، بیا به ځم، دغه ئی وویل، نجلی یو کاغذ له خپله تخر که راو کینبل او دده یارانو ته ئی ور کړ «وګوری چه په دغه کاغذ کښی دده لاس لیك هم شته، مګر اوس انکار کوی، که له خورا نو سره داسی سلوك وشی نودری به څنګه ژوندی پاتی شی» یارانو ئی هغه لاس لیك و کوت او احوص ته ئی ور کړ، مګر احوص هغسی، انکار کاوه او ویل: «دا زما لاس لیك ندی، ما نه دا یوه مګر جنه او چلی نجلی ښکاری، داسی رامعلومیږی چه دا ښکه ده زه په قسم سره وایم چه ما له دی څخه بالکل وزه نده اخستلی.»

نجلی چه دغه دنفی ځواب واوریده، سرئی وښوراوه او په خورا پریشانی ئی وویل: «خلکو! دخدای دپاره زما مرسته و کړی، زه له لوزی مرم، خو څوك می دیښتنی نشته، زما دغو پیسو ته ډیره هیله وه، مګر دا ظالم صاف انکار کوی آه زه څه و کړم، چا ته وژاړم. څوك زما ناری واوری؟»

نجلۍ دخبروله تمامیدونه وروسته په ژړاپیل وکړ، دخلکو پرې زړه سوی راغی او ټولو احوص ته مخ ورواړاوه، اوورته وې ویل!

«له تاسره دومره بی رحمی نه ښائی، څه پیسی چه ددی درباندی پاته دی ورئی کړه، او یا هغه څه پیسی چه اوس درسره شته ورئی کړه نوری به بیاور کړی بیخی انکارمه کوه، ډیره غمجنه معلو میږی.»

«داتاسی څه وایاست؟» احوص دپریشانۍ په حال کښی ملګروته وویل: «ماهیڅکله له دی څخه وزه نده اخیستی، قسم په خدای دی چه زه له دی څخه خبرهم نه یم، او نه داراته معلومه ده، چه دا نجلۍ څوك ده، دکومی قبیلی ده، اوچیری اوسی.»

نجلۍ لاهغسی ژړل چه دهر یوه همدردی ورسره پیداشوه اوزړ ئی پروسو په اخر کښی نجلۍ په ډیرغوصه وویل «تازماله پیسو انکار وکړ او خپل لاس لیك دی ونه پیژاند، اوس ګورم چه ته زماله څېری څخه څنګه انکار کوی، زه به اوس تاغوندی دروغجن او بدچلن سړی ته ځان دروښیم. ترڅو چه دنیا ته دا معلومه شی چه ددروغو پای خراب وی، دائی وویل او له خپله مخه څخه ئی پرده لری کړه ددی دمخ په لیدو دګردی ټولنی سترګی بندی شوی او یوه هم ددی دښکلا اوښایست تاب رانه وړای شوای.

ځلیدونکی بریښناوه اودټولو سترګی ئی، وبرې ښوولې وروسته له څه وخته نجلۍ پرده پرمخ واچوله اوپه ډیر کاوړئی احوص ته وویل «اوس خوبه دی ښه پیژندلی یم...؟»

«ماستامخ له دی پخواهیڅ نه ولیدلی» احوص دښایست له اثره څخه متاثرشو او دعاجزۍ په حال کښی ئی وویل.

پخپله احوص اوټول خلك اریان یاتی وو، مګر نجلۍ لاهغسی ژړل.

عالم دخدای ووچه ددی لورته را تله اوددې تماشی دلیدو لپاره په زرګونو خلك راغونډ شول.

نجلۍ بیاوویل «ښه، قرآن کریم واخله اوووایه چه ترنن پخوادی زمامخ هیڅ ندی لیدلی، پس زه یواځی داقسم درکوم اوخپلی پیسی در پریږدم.»

احوص وویل «زه داشرط قبلوم قران عظیم ئی وغوښت، اوقسم ئی وکړچه «دانجلۍ له نن پخوا ما هیڅ نده لیدلی...»

دا حوص داوینا وه چه نجلۍ سترګی له اوښکو پاکې کړی، اوپه ډیرجوش اوغضب سره ئی وویل:

«خلکو! نن دی بدچلن دتاسو ټولو په مخ کښی قسم واخیست چه ده زمامخ له دینه

پخوا هیڅ ندی لیدلی ، په غور واوریء ، زه ام جعفر دعبدالله لوریم ، چه زما د حسن تعریف دی شپه او ورځ کوی ، زما دملاقاتو کیسې په خپلو شعر و کښې ستائی ، او په دی تو ګه مابدناموی. نن تاسو ټولو ولید چه داڅومره دروغجن دی ، او یوه شریف النسله نجلۍ بدناموی ، او دخپلو دروغو په بدله کښې خپل نس ډ کوی او دځان شهرت پیدا کوی . دایمن ورورله لاسه دسزا مندلونه وروسته زما دایقین ووچه په سمه لاره به راشی ، مګر دی له خپلو حرکاتو ونه ګرځید . اوس ماله ده څخه خوراښه بدله واخیستله او داسی سزا می ور کړه چه دمرګ ترورځی به ئی په یادوی . که په ده کښې یوه ذره همت او غیرت وی نو به پس له دی یوا ځی زما نوم نه بلکه دنور و سپین لمنو او معصو مو نجلیو په بدنا مولو هم جرأت و نکړای شی ، خلکو داستاسی دمحفلو دناستی وړندی ، داددی وړهم ندی چه شریف خلك له ده سره کښینی او له ده سره خبری کوی. تا سو ته ښائی چه له ده سره خپله ناسته ولاړه بنده کړیء .

ام جعفر ولاړه ټول پټه خوله شول ، دو ګړو په زړو کښې یو عجیب کیفیت پیدا شوی وو احوص په داسی حال کښې وو چه له ډیره شرمه ئی مځکه ګروله او چاته ئی دپورته کتلو همت نه وو.

د احوص ژبه دهمیشه لپاره بنده شوه او دام جعفر دعصمت لمن دهغی له ښکلی مخ نه هم زیا ته پاکه شوه دجنس لطیف دا انتقام دهمیشه لپاره په نړۍ کښې د ستایلو وړیادګار پاتی شو او دهری دوری خلک به دغه پاکه او با عصمته میرمن د عزت په نامه یادوی.

ښاغلی حسن ساپی

تاریخ څه شی دی؟؟

(۱)

دتاریخ دتحول دسیر له مطالعې نه څرګند ېږی چه تاریخ له دوه نیم زره کالو نه راپدې خوا دبشر په ذهن کښې ئې رازراز حیثیتو نه لرلی او دمختلفو غایو او مقاصدو دپاره په کار اچول شوی او په بېلو رنګونو او جلا سبکونو لیکل شوی او راز راز لوبی پرې شوې دی.

پدې ډول چه، کله دساعت تېرۍ او غم غلطی یوه وسیله وګڼل شو او کله دسیاسی او مذهبی قدرتونو دپروپاګنډۍ اله.

کله د خپلو ولسونو او کامونو دتحریك او تشجیع په منظور کار ترې واخیستل شو او کله دپردی کامونو او ولسونو دبېرولو او مدغم کولو دپاره.

کله د انسانانو دبدیعی حس دخوزولو په منظور ولیکل شو او بیا کله دتخیل او حافظې دتقویی دپاره،

بالاخره دتاریخی زمانې په ترڅ کښی تاریخ کله د بشری سترو او وتلیو انسانانو دشخصی ارادی زېږنده وګڼل شو او کله د متافیزیکی قوا و د مطلقې ارادی مظهر.

دتاریخ دغه تلون او بې ثباتی او بی حیثیتی له دوه نیم یا دری زره کالو نه راپدېخوا تر ۱۹ میلادی پېړۍ پورې دوام کوی.

مګر دا باید هېر نکرو چه دغه راز پیښی او لوبې یواځی په تاریخ باندې ندی شوی که چېرته دعلومو تاریخ نه یو نظر واچول شی څرګندېږی چه له ۱۸ او ۱۹ پېړۍ نه پخوا طبیعی او مثبته علومو یو خاص او مستقل موجویت نه لاره او زیاتره دفلسفې دبحث موضوعات ګڼل کېدل.

خو درنسانس نه راپدېخوا د ۱۹ پېړۍ تر وروستیو پوری چه طبیعی حادثات ټول تعبیر او تعریف کړی شول او علوم یو یو پرله پسې دفلسفې نه جلا شول او هر علم خپل مربوط حادثات راټول کړل، او تر خپل عنوان لاندې ئې راوستل، نو ددغو طبیعی علومو دتثبیت نه وروسته نوبت تاریخ ته ورسېد او تاریخ په اساسی ډول دپوهانو دبحث موضوع وګرزېد (۱) پدغو بحثونو کښې لومړی سوال داؤ چه: آیا تاریخ علم کېدای شی او که نه؟ دغه سؤال حتی تر ننه پورې دځینو خلکو له خولې اورېدل کېږی، داسې ښکارې چه. ګوا کې دغه سوال لاتر اوسه په قطعی ډول نه دی حل شوی.

غالب ګومان دادی چه دتاریخ دموقف په متعلق یوې قطعی فیصلې ته نه رسېدل ځینې علتونه او سببونه لری. مثلاً دتاریخ دتحول په سیر کښی مونږ ولیدل چه د ۱۹ پېړۍ نه

(۱) ـ تاریخ خو ځکه ترټولو علومو وروسته دبحث موضوع وګرزید چه تاریخی حادثات نسبت طبیعی حادثاتو ته ډېر زیات پېچلی او کامپلکس دی.

پحواپر ته دڅو تنو مو ر خینو
له اشارو او تلقیا تونه لکه
تو کیدید(۲) پو لیو س، ا بن
خلدون او. . . . . .
دنورو ټولو مورخینو اثار او طرز
تلقیات او بژ کتیف «افاقی» او
عالمانه نه دی او ددوی داثارو نواقص
تردری کته گوریولاندی راځي
۱ - ددغو مورخینو لو مړی
نقص خوداو چه دوی وقایع
محض د وقائعو په لحاظ نه لیکل
او نه ئی تدقیق کول او خپلی
لیکنی ئی د «تاریخ په نامه»
زیاتره دادبی او ذوقی مقاصدو
او د سیا سی او مذهبی پرو
پا گنډونو دپاره په کار اچول
۲ - ددغو مور خینو لیکنی
ډیری شخصی او سطحي وی
او ټول دپا چایانو او ملکه و او
وزیرانو او پهلوانانو نه ئی
بحث کاوه او د ولس او دهغو
د ژوندانه له طرز نه بیخی نه
غبزیدل .
۳ - دلیکنی طرز ئی غیر انتقادی
ؤ ، دمنابعو د تدقیق او څیړنی
دپاره ئی هیڅ زحمت نه گاله، او

هرڅه به ئی دخپل اعتماد وړ
گڼل ، او دتاریخ او خرافی او
ساختگی داستانو نو ترمنځ هیڅ
توپیر ته نه قائلیدل .
حتی له ۱۹ پیړۍ نه را پدیخوا
ترننه پورې ځینې داسی
مورخین شته چه ددوی لیکنی
دغه پو رته درې ذکر شوی
نقصو ته لری.
بله داچه ځینی خلک دی
چه دوی شعوری یا غیر شعوری
تاریخی حقا ئقو او تاریخی
پیښو ته دهنر او ادب رنگینې
جامې اغوندی او یا یولړ
رو مانو نه او خیالي افسانې
او حتی ځینی ډرامې او داسې
نور لیکی، او بیا پخپلو دغسی لیکنو
د تاریخ نوم ږدی . نو که
چېر ته یو محقق دغه رار
تاریخونه (زاړه وی او که نوی)
ټول یو ځل له نظره تېر کړی؛
نو حق لری چه داحکم و کړی
چه تاریخ دادب او هنر یوه څانگه
ده نه یو علم . که څه هم چه دوی
حق لری چه په تاریخ باندی د
هنر او ادب حکم و کړی ، خو

بهر حال باید و ویل شی چه
دغسی حکم معقول او منطقی نه
دی، ځکه ددوی دا حکم په یو
لړ بی اساسو او غلطو اسنادو
او مقدماتو بنادی . یعنی دوی
په حقیقت کښی یو لړ ادبی او
هنری او ذوقی کتابونه د
تاریخ په نامه مطالعه کړیدی
نه حقیقی او علمی تاریخو ته او
دا داسې مثال لری لکه څوك
چه په مشوانۍ دقلم حکم و کړی
دا هم دیادونی وړ ده : لکه
څنگه چه په بشری ټولنو کښی
په حقیقی او لازمی صفا تو یو
متصف مورخ خال خال پیدا
کیږی په همدې ډول هغه
تاریخونه چه د یو علمی او
حقیقی تاریخ په حیث لیکل
شویدی، ډېر لږدی . په لرغونی
یو نان کښی یو اځی هرو دوت
تو کید یدس او پو لیو یوس ته
مورخ وویل شو په فرانسه کښی
فو ستل دو کولانژ، په جرمنی
کښی (رنک)، په اسلامی نړۍ
کښی ابن خلد ون، په او سنی
عصر کښی په انگلستان کښی
ارنولډ تاین بی یو واقعی او حقیقی
مورخ و گڼل شو.

(۱) په ځینو منابعو کښی (توسیدت)
هم ضبط شوی دی .

البته کله چه تاریخ پدې بریالی شی چه خپل قوانین ښکاره او تثبیت کړی نو ورپسی به دواقعی مورخینو شمېر هم ورځ به ورځ زیاتوالی ومومی او داد قانون له ایجاباتو څخه ګڼل کېږی.

مثلاً کله چه دآتوم دماتېدو نظریه ښکاره او ثابته شوه او فورمول ئی جوړ کړی شو، نو ددغه اثبات سره سم داتو مستانو شمېر دادی چه ورځ په ورځ زیاتېږی.

د۱۹ پېړۍ نه را پدیخوا چه تاریخ دپوهانو توجه ځانته جلب کړه او د هغو دبحث موضوع وګرزېد. په نتیجه کښی دتاریخ په متعلق عالمانه طرز تلقیات منځ ته را غلل علمی او واقعی تاریخونه ولیکل شول، دتاریخ دتدقیق او انشاء (تحلیل او ترکیب) دپاره یو ځانله اصول او قانون قائل شول، او تاریخی حادثات په یو قانونی چوکات کښی ځای کړی شول. او په تاریخ کښې دعلمی څېړنو او د واقعاتو دسطحی توصیف ترمنځ ډیر زیات توپیرومنل شو.

نو بنا په دغو عواملو او مقرراتو یو لړ واقعی مورخین او حقیقی تاریخونه منځ ته را غلل. نو که چېرته دغسی تاریخونه مطالعه کړی شی نو غالباً به په تاریخ باندې دیو علم حکم وشی.

دا باید وو بل شی چه پخواله ۱۹ پېړۍ نه هم واقعی مورخین موجود وو او علمی تاریخونه لیکل شویدی، او بر عکس نن هم داسی خلک شته چه تاریخ علم نه بلکه دادب یوه څانګه ګڼی او بنا په دغه عقیده کوم تاریخونه چه لیکی زیاتره ادبی او هنری خوالری نو کله چه داسی ده؟ لازمیږی چه داقلیت او اکثریت له مخی باید حکم وشی. پدې دول چه هغه طرز تلقی او هغه عقیده چه تاریخ دادب یوه څانګه ګڼی او د علم حیثیت ورته نه قائلیږی له ۱۹ پېړۍ نه پخوا په اکثریت کښی وو او لدغې پېړۍ نه را پدیخوا ورو ورو دمطلق اقلیت خواته درومی. برعکس.

هغه طرز تلقی او عقیده چه تاریخ لکه بیولوجی یو مثبت علم ګڼی له ۱۹ پېړۍ نه پخوا په مطلق اقلیت کښی ؤ او له دغې پېړۍ نه را پدیخوا دادی اوس یو ښکاره اکثریت لری.

دا کثریت او اقلیت له څېړنې نه وروسته دې نتیجی ته رسېږو چه تاریخ پخواله ۱۹ پېړۍ نه دادبیاتو یوه څانګه وه او وروسته له ۱۹ پېړۍ نه زیاتره دیو علم (ساینس) په حیث منل شوی دی.

دکابل مجلې په (٤٤٢) ګڼه کښی مو وویل چه علوم دحادثاتو دنوعیت او دموضوع له مخې په عمومی دول په دوه لویو برخو وېشل کېږی لکه مادی علوم (ساینس) چه موضوع ئې طبیعت او ماده او طبیعی حادثات دی.

او معنوی علوم چه دبحث موضوع ئې انسان او انسانی حادثات دی، او تاریخ مود معنوی علومو لکه اجتماعیات او روحیات په لړ کښی وښود.

دا چه تاریخ دمعنوی علومو په لړ کښی بې دریغه ودرېږی پدې کښې هیڅ دبیا بحث کولو کومه اړه نده پاته او مونږ پدغه مقاله

کښې نه غواړو چه دا ښکاره کړو چه تاریخ یو معنوی علم دی او که نه بلکه زمونږ مطلب دادی چه ښکاره کړو چه آیا تاریخ له (ساینس) سره تر کومه ځایه پورې انطباق کوی او ارتباط او مناسباتئې له ساینس سره زیات دی او که له ادب سره؟ دغه مطلب دایضاح دپاره بده نه ده که لومړی دساینس لازمه شرائط قواعد، صفات، ممیزات. خصوصیات. موضوع اوغایه او نور مشخصات دتاریخ له لازمه صفاتو او قواعدو او سره به یو مقایسوی شکل افاده کړو یدی دول:

ساینس:

دساینس غایه او هدف او دهغو یو دپر عمومی او جامع تعریف تر هرڅه لومړی دحقیقت ادراك دی.

تاریخ:

دغه تعریف (دحقیقت ادراك) دتاریخ لومړی تعریف او اصلی غایه هم ګڼله کیږی.

یخواله ۱۹ پیړی نه دخلکو په نظر کښې تاریخ دحقائقو ادراك نه بلکه دحادثاتو محض لیکل او دهغو تمثیل ؤ او بنا یدي تعریف لازمیده چه تاریخ زیاتره دادب او هنر بڼه غوره کړي، ځکه هر تمثیل احساسات او بدیع ذوق او عالی خیال ایجابوی مګر نن تاریخ ددی دپاره چه حقیقت درك کړی دد غه منظور دپاره یو ځانله دتدقیق طرز (اصول) لری.

ساینس:

دساینس موضوع طبیعت او ماده او طبیعی حادثات او دهغو ترمنځ دثابتو مناسباتو (چه طبیعی قوانین هم نومیږی) موندل او څېړل دی.

تاریخ:

دعمومی تاریخ دبحث په مفرداتو کښې مونږ طبیعي حادثات لکه خونړی سیلابونه طوفانونه. زلزلې دبحرونو نه منځه تلل دلویو وچو پیدا کیدل، دغرونو پیدا کیدل او دهغو له منځه تلل او داسی نور وښودل پداسی حال کښې چه له یوخوا دغه پېښې دجیولوجی دبحث موضوعات دی او له بلې خوا دعمومی تاریخ په مفرداتو کښې هم راځی نو بنا یدي تاریخ ددغو طبیعی حادثاتو موضوع دساینس له موضوع سره څه توپیر نلری.

له بلی خوا تاریخي وثائق هم په دوه لویو برخو ویشل کیږی لکه مادی او معنوی څرنګه چه مادی وثائق دتاریخی حادثاتو سمبولیك شیان دی نو بنا یدي ګڼله دتاریخ موضوع مادی شیان هم ګڼل کیږی. دطبیعی حادثاتو ترمنځ دثابتو مناسباتو (قوانین) میندل او تدقیق کول چه دساینس غایه او مقصد دی تاریخ هم زیاتر باسی چه دیو ځانله اصول په مرسته دتاریخی حادثاتو ترمنځ طبیعی وی که اجتماعی ثابت مناسبات (قوانین) ومومی.

ساینس:

دساینس هدف دادی چه دحادثاتو سلسله دهغو دپر له پسې پېښېدو په اساس ترتیب او تنظیم کړی او یدی وسیله دحادثاتو دپېښېدو علتونه او سببونه معلوم او ښکاره کاندی یایه بل عبارت دساینس هدف دادی چه دطبیعی حادثاتو دپېښېدو علتونه او سببونه او مومی چه یدغه مناسبت بیکن یو ختیز پوهاند

وائي: «حقیقي پوهېد نه عبارت دی دعلتونو له پوهیدنې څخه»

تاریخ:

کت مت په همدې شان دتاریخ نوی اصول هم دا توصیه کوی چه تاریخی حادثات هغه وخت ښه تعریف کیږی او ښه پوهیدل او پیژاندل کیدای شی چه دیوی حادثی تول علتونه او عوامل وپیژاندل شی.

او دتاریخ علم هم هغه علم دی چه کارئی دحادثاتو دعلتونو او سببونو پلټل او مینځل دی.

سایانس:

سایانس په تجربه او عقل چه دغه تجربه سوق او اداره کوی ولاړدی او دتجسس او پلټنې په بو آزادانه اصول طبیعي حادثات لکه څنګه چه په طبیعت کښې جریان مومی هغسی ترکتنې او خېرنې لاندې نیسی دغه پورته تعریف دطبیعي علومو یوډېر منلی تعریف دی.

تاریخ:

وکوری چه دغه تعریف په ډېر لږ تغییر څرنګه له تاریخ سره هم توافق کوی! خو پدې شرط چه که د (سایانس) په ځای (تاریخ) د (طبیعت) په ځای (جامعه) او د تجربې په ځای (تحلیل) ولیکل شی نو دتاریخ تعریف به داسی وی: تاریخ په تحلیل او عقل چه دغه تحلیل سوق او اداره کوی ولاړ دی او دتجسس او پلټنې په بو آزادانه اصول تاریخی حادثات لکه څنګه چه په جامعه کښې جریان مومی ترکتنې او خېرنې لاندې نیسی.

دتاریخ دغه پورته تعریف ته که بو نظر واچول شی ښکاره کیږی چه دطبیعي علومو له تعریف سره دومره توپیر نلری مثلا په سایانس کښې تجربه راغلی وه مګر په تاریخ کې دتجربې ځای تحلیل (چه هغه هم یخپل ذات کښې یو ډول تجربه ده) نیولی دی.

دسایانس په تعریف کښې د (طبیعي حادثات) جمله راغلی ده او په تاریخ کښې د (تاریخی حادثات) جمله که چېرته انسان دطبیعت یو عنصر او جامعه یوه طبیعي موسسه وګڼو نو تاریخی حادثات له طبیعي حادثاتو سره بیخی نژدیوالی پیدا کوی چه بنا یدغو پورته مشابهتونو او نژدیوالی تاریخ له سایانس سره ډېر نژدې کیږی او حتی بووالی مومی.

سایانس.

دسایانس دیر نسبیو نو له مخې په طبیعت کې همیشه کمیت ورو ورو او په تدریج سره تغیر کوی او کیفیت په ناڅاپی او دخیز په ډول منځ ته راځی. په بل عبارت په طبیعت کښې هر تدریجی کمی تغییر په بو ناڅاپی کیفی تغییر منتج کیږی. مثلا او به کله چه حرارت ئې درجه په درجه منځ په لوړه ځی همداچه د سانتی ګراد سل درجی ته ورسیږی ناڅاپه په ځوش راځی او کله چه حرارت ئې درجه په درجه او ورو ورو ښکته کیږی او صفر ته رسیږی بو ناڅاپه یه یخ بدلیږی؛

یا په حیواناتو کښې: کله چه هګۍ د چرګې لاندې کښېښودل شی؛ دهګۍ داخلی مواد ورو ورو سته له بولړ تدریجی کمی تغییراتو نه خپله بڼه اړوی او په یو ناکلی وخت کښې ناڅاپه هګۍ ماته شوې او چرګوندی له هغې نه راوځی او داسې نور.

تاریخ:

کت مت لکه دغه پورته

طبیعی حادثات تاریخی حادثات
هم هغه کیفی تغیرات دی چه
دتدریجی کمی تغییراتو په اثر په
یو ناڅاپی ډول پېښېږی . مثلاً
« په لومړی اشتراکی جامعه
کښې طبقات نه ؤ موجود مګر
وروسته دزرها و کالو په ترڅ
کښې د کمی تغیراتو په اثر یعنی
دنویو آلاتو او افزارو په کشفیدو
د کار په تقسیمیدو او دتولید
دطرز په بدلیدو او دمالکیت او
استثمار دپیدا کیدلو په اثر
ناڅاپه د اشتراکی جامعې
ماهیت تغییر ومونداوددغه کمی
تدریجی تغییراتو په نتیجه کې
طبقاتی جامعه منځ ته راغله او
همدغه کمی تدریجی تغییرات
سبب شول چه دتاریخ په دورو
کښې د غلامۍ رژیم په فیئو
ډالیزم او فیو ډالیزم په کاپیتا
لیزم او کاپیتالیزم په سوشلیزم
واوړی »

منتها دجامعې دغه تاریخی
حادثات وروسته له ډېرې زمانې
نه او پداسې حال کښې پېښېږی
چه جامعه دیولړ کمی تغییراتو
په اثر په یو بحرانی حالت کښې
واقع شوی وی .

سیانس:

اګوست کونت وائی :
« دعلومو غایه او ډېره اساسی
وظیفه دبشری ذکا دهغه
احتیاج تطمین دی کوم چه
دحادثاتو دقوانینو دمیندلو او
پوهېدلو دپاره ئې حس کوی »
مثلاً دفزیک یا کیمیا یو
پوهاند چه په ډاډ او کاڼو پخیل
لبراتوار کښې په ځېړنه او تحقیق
لګیاوی او کله کله د خپل
وجود یو عضو هم پکښې بایلوی
زیاتره محض ددې د پاره چه
دغه پوهاند خپل هغه ذاتی او
فطری دتجسس حس چه دطبیعی
حادثاتو د قوانینو د میندلو او
پوهېدلو دپاره ئې لری تطمین
کاندی .

دعلومو دحسبیت په متعلق
ارسطو وائی : « ډېر عالی او
ښه علم هغه دی چه هغه له منفعت
نه عاری وی . »

تاریخ:

په همدې ډول دتاریخ لومړی
غایه او ستره وظیفه هم داده چه
د تېرې زمانې په متعلق دبشر
دتجسس فطری او ذاتی حس
تطمین کاندی یو آرکیالوجست
او مورخ چه له ودانیو
نه لیرې په خرابو او ورانوڅایو
کښې کیندنې اوځېړنې کوی ،
او یا دمادی او معنوی و ثائقو
دمیندلو او پوهېدلو دپاره زیار
اوزحمت ګالی ، داراز زحمتونه
اوځېړنې یو مورخ او آرکیالو
جست ته په ابتدا کې بې له دې
چه دوی خپل دتجسس او پلټنې
فطری او ذاتی حس تطمین
کاندی ، بله هیڅ ګټه ورته نلری
مګر وروسته البته ددوی دتحقیق
او ځېړنې په نتیجه کې چه کوم
معلومات لاس ته ورځی دهغه
ګټې او فایدې دوی او ددوی
ملت او حتی دبشریت عالم ته په
زیاته اندازه رسېږی .

پوپوهاند وائی : یو علم چه
هرڅومره حسبی او له آنی او
فوری منفعت نه عاری وی په
آینده کې په هماغه اندازه ګټور
ثابتېږی .

څرنګه چه دتاریخ علم په
ابتدا کښې له مادی آنی او فوری
منفعت نه عاری دی نو دارسطو
دقول په بنا تاریخ دډېرو عالی
او ښو علومو په کتار کې ودرېږی

سیانس:

«دطبیعی حادثاتو دسمې او صحیح پېژندنې اوپوهېدنې دپاره سیانس دیه (علمی ذهنیت) لرل توصیه کوی او دعلمی دهنیت اوصاف اوشرائط دادې:

۱ آزادانه تدقیق
۲ مثبت تفکر
۳ عقیده په ډیتر مینزم (جبر)
٤ تنقیدی فکر
٥ حسبی تفکر
٦ اخلاقی قدرت»

تاریخ:

دتاریخ علم هم دتاریخی حادثاتو دسمې اوصحیح پېژندنې اوپوهیدنې دپاره د(علمی ذهنیت) لرل یوډېر حتمی اولازمی امر گڼی.

چه مونږ دمخه ددغه علمی ذهنیت دلرلو ضرورت او اهمیت یومورخ ته دتاریخی وثائقو دتحلیل اوترکیب په مورد کښې ښکاره کړ.

سیانس:

د(پاستور) دغه توصیه چه دسیانس زده کوونکو ته ئې کوی: اووائې: «تر څوچه یوشی په قطعی اوښکاره ډول ثابته نشی یو قدم هم دمخه مه زدئی! تنقیدی فکر زیاتره باید ستاسو شعار اوعادت وی؛ ځکه بې له هغه (تنقیدی فکر) هېڅ شی دتکمیل پائې ته نه رسېږی بلکه نیمگړی او سطحی پاته کېږی.»

تاریخ:

دپاستور دغه توصیه دتاریخی اسنادو اووثائقو دتحلیل (انتقاد تاریخی) په مورد کښې هم بیخی صدق کوی ځکه تاریخ زیاتره یو انتقادی علم دی.

سیانس:

په علم کښې داختصاص په متعلق یوپوهاند وائی:

«عالم باید دیو علم په یوه څانگه کښې تخصص ولری او خپل ځان باید په هغه کښې منهمك کړی، خو په عمومی ډول دنورو علومو سره هم باید ناآشنا نه وی، ځکه هرعلم دنورو علومو سره ځینی ارتباط او تعلقات لری.»

تاریخ:

عیناً په همدی ډول یومورخ ته هم داتوصیه کیږی چه باید په تاریخ کښې داختصاص درجه وگټی او خپل ټول کوششونه دهمدې مقصد دپاره په کار واچوی، خو څرنگه چه نسبت هرعلم ته دتاریخ ارتباط او تلقیات له نورو علومو سره زیات دی، نو یو مورخ هغه وخت پخله ساحه کښې تخصص گټلای شی، چه له ټولو علومو سره آشنایی ولری. په تېره بیا له اقتصاد، احصائیه، سوسیولوژی (اجتماعیات) پسیکولوژی (روحیات) سیاست، فیلالوژی؛ آنتروپولوژی (انسان پېژندنه) اننولوژی (نژادپېژندنه) پلی انتولوژی (د فوصیل علم) ارکیالوژی (لرغون پوهنه) سره چه دا علوم بیا دتاریخ متمم او مکمل علوم گڼل کیږی، اودهمدغو علومو مرسته ده چه تاریخ د مثال له ماهیت نه ژغورل کیږی اودعلم نوم ځانته غوره کوی». (۱)

په همدې ډول که چیرته دساینس اساسی قوانین او خصوصیات او ممیزات اوصفات

---

(۱) ددغو علومو موضوع اوغایه اودهغو ارتباط او تعلقات له تاریخ سره به په یو بل مبحث کښې بیان کړی شی.

ه تاریخ له اساسی صفاتو خصوصیاتو او ممیزاتو او قوانینو سره پرتله کړو ډېر امکان لری چه په ډېرو مواردو کښی تاریخ له سائنس سره نژدیوالی او ېووالی ومومی.

البته د سائنس د ځینو صفاتو پر بنا لکه (عمومیت) او (تجربه) چه تاریخ له هغو نه عاری دی، نشی کېدای چه تاریخ لکه فزیك، کیمیا، بیولوجی ریاضی هندسه او نورو غوندی یو مثبت علم و ګڼل شی، او داوس د پاره هم دا امکانات لا نه دی کشف شوی چه تاریخ یو مثبت او غیر قابل تغییر علم وشمېرل شی. مګر د آینده د پاره دا امیدشته چه تاریخ هم د مثبته علومو په کتار کښی ودرېږی.

یو ختیز پوهاندوائی « د تاریخ علم او د تاریخ فلسفه د بشر له ډېرو نویو ابتکاراتو ځنی ده »

د مخه مونږ وویل چه مثبته علوم له او له مثبت نه وو ثابت شوی او د دوی د اثبات زمانه زیاتره ۱۸ او ۱۹ او ۲۰ پېړۍ ده، تاریخ چه اوس تازه د عالمانو د بحث موضوع ګرزېدلی دی، ممکن چه یو وخت بشر بریالی شی چه تاریخ هم لکه یو حیاتی علم مثبت ثابت کاندی.

البته د تیوری په حیث اوس هم تاریخ د ځینو پوهانو له خوا (چه وروسته به ئی تفصیل راشی) لکه بیولوژی یو مثبت علم ګڼل شوی دی مثلا:

(نوربیا)

د ښاغلی ثابت، تتبع او تو

پښتانه د نورو په نظر کښی

ښاغلی العقاد، مصری لیکوال د پښتنو په نسبت یوې بلی موضوع ته اشاره کړې ده، وایی: د افغان دولت په دې باب کښی چه د هند خوراستر هیواد بی فتح کړاو په هغه کښی یی اسلام خپور او نشر کړ، د بغداد د دولت پر ځای دریدلی او د هغې ستری اسلامی امیرانو ری عوض شوی دی ځکه د هند د غربی برخی (سیند) له فتح کولو څخه وروسته چه هغه هم د اموی دولت په عصر کښی فتح شوې وه بیا له اسلامی نقطه نظره بی له افغانی دولت څخه داسی فتحه د بل چا نه ده په برخه شوې او وایی چه دا فتحه یوه باامتیازه فتحه وه چه د افغان په تاریخ کښی یو خورا ځلاند او غوره فصل دی، چه ډېره براخه مځکه پښتنو فتح کړه او په وسیع مملکت کښی بی د اسلام مقدس دین نشر کړاو وایی چه په هغه ستر هیواد کښی د پښتنو له خوا د اسلام نشر بدل د دوی د توری په زور سره نه وو، ځکه په توره او حربی قدرت سره دوی یواځی ښارونه او وطنونه فتح کړل نو دا امر د افغان قوم د ښه سیاست او نیکې اخلاقې معاملې او غوره خویونو له لاری انجام شوی دی، چه خاص له همدغه کبله د هند، و ګړو د دوی دین او مسلك و مانه او له دوی سره یی اشتراك فی الدین او مذهبی اتحاد قبول کړاو دا کار د تورو او نور برم په قدرت سره نشی عملی کیدای.

او وایې! چه د هند په خاوره کښی د مسلمانانو بری او نصرت د هند دو ګړو په نزد د مشیئت الهی او د پاك خدای (ج) د نصرت نښه وه ځکه سره له دې چه د هند وانو لښکری په هر وار

دجګړې په وخت کښې دشمیر او تعداد له حیثه د مسلمانانو له لښکرو څخه ډېری زیاتی وی او هغه دهند لښکری په خپل هیواد کښې هم وی او دمالی او حربی لوازمو مرسته به هم هر کله ورسره وه او په هر وخت کښې به قوت ظهر هم ورته رسیدو خو سره له هغه هم بری او فتح به د مسلمانانو په برخه وه نو له دې لاری هندیان د اسلام په صدق او حقانیت قانع شول، چه د اسلام دین حق دی او د خدای (ج) په نصرت یی چه له مسلمانانو سره یی وعده شوی ده، باور راغی نو په دې اثر دهند خورازیات وګړی په اسلام کښې داخل شول او په ډېر صمیمیت سره یی د اسلام مقدس دین ومانه.

د پښتنو د فتوحاتو شهرت:

نوموړی العقاد وایی چه په هند کښې د پښتنو فتوحات په تو له نړۍ کښې زیات شهرت لری ځکه چه دهند له پخوا نیو زورورو او نامتو فاتحینو څخه لکه له مقدونی اسکندر او نورو څخه د پښتنو مسلمانانو فاتحینو نوم او شهرت د هندوستان د ډېر پراخ وطن د فتح په باب ډېر لوړ او مشهور دی، له دې امله چه نوموړی اسکندر تر (دکن) پوری نه ؤ رسیدلی او پښتنو دکن هم فتح کړی ؤ، او حتی دهند د خاوری تر پایه پوری د شرق خواته د برما تر سرحدونو پوری رسیدلی وو او د جنوب خواته د ستر بحر تر غاړو پوری رسیدلی وو.

او د شمال خواته هم د همالیې تر غرونو پوری رسیدلی وو لکه چه «د سلطان شهاب الدین غوری» لوړ فاتح سپه سالار (محمد بختیار غلجی) دهند د شرقی انتهائی بولې له نیو څخه وروسته چه د شرقی بنګال او د برما له سرحدونو څخه عبارت دی، د چین د نیولو په هڅه د تبت خواته ولاړ چه دهند او تبت تر منځ غرونو څخه تېر شو، له (۱۲) زرو پښتنو لښکرو سره یی پر تبت باندی حمله وکړه خود وخت او د هودانه مساعدت په وجه بیرته راوګرزید او بنګال ته راستون شو دی وایی له اسکندر څخه وروسته دده هیڅ کومه نښه او آثار په هند کښې نه دی پاته شوی، بالعکس د پښتنو مسلمانانو په وخت کښې د پښتنو آثار او نښې څرګندی شوی، چه دهند ډېر زیات خلک مسلمانان شوه او د اسلام په مقدس دین وګرو هیدل او زیاتی مدرسی او خانقاګانی او مسجدونه یی سم دستی ودان کړل. چه له دوی څخه وروسته هم د دوی آثار پاته شول، چه تر نن ورځی پوری لا هغه آثار چه دوی یی بنسټ ایښی ؤ او هغه مسلمانان چه د پښتنو د دعوت او تبلیغ په اثر مسلمانان شوی وو، پاته دی!!!

او دی وایی چه د پښتنو فاتحین یواځی د وطن او ښارونو فاتحین نه وو، نه یی یواځی هغه غوښتل بلکه د زړونو او عقلونو فاتحین وو، دوی د هندوستان د خلکو زړونه او د هغوی افکار فتح کړی وو چه د هغو زړونه او افکار پښتنو ځانته جلب کړی وو.) لکه چه نوموړی وایی په رښتیا سره همداسی شوی وو، د پښتنو په عصر کښې اول علمی، مذهبی او تبلیغی موسسی په هندوستان کښې جوړی شوی، چه د هغو

په اثر داسلام دپرمخ تګ لپاره زیات خدمتونه وشول، او په نتیجه کښې په ملیونو وګړی له شرک څخه راو اوښتل او د اسلام په مقدس دین کښې داخل شول اوله دغو موسسو څخه زیات علماء او فضلا منځ ته راغلل سربیره پرهغه صنعت اوعمران هم ددوی په عصر کښې ښه ترقي وکړه دپښتنو مدنیت علم پالنه او عدالت دقرآن او نبوی توصیف سره سم په هند کښې ښه جریان لاره چه دټول هندوستان پر خلکوئي تاثیر کړی ؤ، چه دهمدغې اخلاقي جنبې تاثیرات وو، چه ددوی له دعوت سره سم اسلامي جنبه ډېره قوي شوه په پای کښې دپښتنو پرلځای پخپله هم هغه هندویان ؤ دربدل او په هند کښې یې داسلام دپرمخ تګ دپاره پخپله کوششونه کول چه داهم اوس مونږ دپښتنو باقیه حسنات ګڼلای شو، او هم دی.

دپښتنو روحي اوجسمي قوت

دمصر نوموړی لیکوال ښاغلی «عباس محمود العقاد» دپښتنو دروحي او جسمي قوت په باره کښې وایي چه (پښتانه قوي بدنونه لري او دجسمي قدرت خاوندان دي، ښه پیاوړي اوغښتلي دي او په همدغه شان ډېره قوي روحیه لري چه دهمدغه روحي قوت اواقتدار له لاري دعالي همت اوپوه شجاعت چې پښتنان دي او له همدغه امله پښتنو خپل قومي امانت هروخت په ښه او مناسب ډول سره ساتلی دی وایي هغه وخت چه خو راستر ستر دولتونه لکه کسرایان اودهند راجا ګان اودخلفاؤ دولتونه پر پښتنو باندی چارچاپیر راګزېدلی وو، په هغو وختونو کښې هم پښتنو دهمدغه روحي اوجسمي قوت اوقدرت په اثر خپل موجودیت ساتلی اوخپل استقلال او بشپړه حریت بې حمایه کړی ؤ سربیره پردې چه خپله خاوره دوی ساتلې وه او خپلواکي ژوندي کاوه د شرق خزانه دماوراءالنهر پاچاهي او حکومت هم ددوی په لاس کښې ؤ او دغرب خواته دایران خاوره هم ددوی په تصرف کښې راغله او ددوی له خوا اداره کیدله که څه ددغو هیوادو دوګړو شمیر تر پښتنو ډېر زیات وو لکه دا او مسلم ظاهریانو اوسامانیانو او اهل صفاریه وختونو کښې چه دایران نیمه خاوره دپښتنو په لاس کښې وه په تیره د پښتنو دغزنوي امپراتورۍ په وختونو کښې او دپښتنو دخوارزم شاهانو په عصر کښې خودایران مځکه تو له دپښتنو تر اداري لاندې وه.

ښاغلی العقاد وایي: (هغه پښتني دولتونه چه دهند دستر مملکت دفتح کولو او په هغه هیواد کښې داسلام دمقدس دین خپرولو دپاره یې نهضت کړی ؤ دري دولتونه وو اول دغزنویانو دولت، دوهم دغوریانو دولت دریم دغلجیانو دولت وو، په تیره سلطان علاء الدین غلجي.)

نوموړی وایي غزنویان چه دسبکتګین دارلادی څخه عبارت دي که څه هم دوی په ظاهر کښې دافغان له نژاد څخه نه وو او ترک له نژاد څخه ګڼل کیدل خو دغه غزنویان پښتنو کښې پیدا شوي او دپښتنو په منځ کښې لوی شوي په پښتنو کښې روزل شوي وو او دوی خوی بې اخیستي وو ددوی قوت افغانان وو او هغه قوت اوقدرت چه دوی وربانديې اعتماد کاوه او هغه زور چه غزنوي حکومت بې حمایه کاوه

اوهغه اقتدار چه دهغه په ذریعه
غزنویانو فتوحات کول هغه پرته
دافغانانو له قوت او قدرت څخه
مل قوت او بله وسیله نه وه نه
یی بل چا او بلی خوا ته نسبت
کیدو نو له همدغه امله لازمه
او واجب دی چه غزنویان پښتانه
او حکومت یی دپښتنو حکومت
وګڼل شی نه بل څه !!!
دښاغلی العقاد داخبری چه وایی
چه دپښتو غزنوی دولت چه
دسبکتګین له اولادی څخه عبارت
دی ، که څه هم په ظاهره کښی
دوی دافغان له نږاد څخه
نه وو ، او دترك نژاد ته یی نسبت
کیدو ، خو دوی په پښتنو کښی
پیدا شوی او په پښتنو کښی لوی
شوی وو ، او دپښتنو له خوا ددوی
انتخاب په پاچاهی شوی ؤ
نو باید پښتانه وګڼل شی
نه بل څوك) په دې باب کښی
دنوموړی عالم خبره له واقعو
سره سمه او حقیقت یی اظهار کړیدی
دتاریخی حقائقو په استنادمونږ
وایو هغه وخت چه د پښتنی
باختری سامانی کورنۍ پاچهانو
الپتکین نومی یو خپل سپه سالار ته
دافغانستان دشمالی سیمو اداره
وسپارله او دهغو اداری او عسکری
چاری ئی دده په لاس ور کړی وی
نوموړی الپتکین اول له دی کبله
چه دی دیوی پښتنی باختری
کورنۍ له خوا په افغانستان
کښی یو لوړ مامور مقرر ؤ ،
او دی دپښتنو یو خدمتګار
باله کیدو ، له بلی خوا ده
دپښتنو په هیواد کښی له خپلو
پښتنو سره خوراښه رویه کوله
چه پښتانه خوراور څخه خوشاله وو
او دپښتانه تبر په خدمت یی ځان
سرلوړی بالو .
له دغو لارو نوموړی سپه سالار
الپتکین په پښتنو کښی زیات
نفوذ ځانته ګټلی ؤ او دپښتنو هم
ډیر خوښ ؤ . نو کوم وخت
چه دسامانی پاچهانو تر منځ
دځینو کورنیو اختلافاتو
پیدا کیدو په اثر دهغه عصر
دنوی پاچا له خوا ده ته خطر
متوجه او پیدا شوه او دی پر خپل
ځان وو ویرید ، نوده لکه چه
ډومبی یی دپښتنوالی دعوه
کړې وه او ځان یی یو پښتون
او دپښتنو صمیمی خدمتګار ګڼه
په دی حال کښی یی خپل ځان
پښتنو ته وسپاره ، دپښتنو مشران
یی راغوند کړل ورته یی ؤویل
زه له تاسی څخه غواړم چه
لکه یو پښتانه مشر او لکه دیو خپل
صمیمی خدمتګار په څیر ما
حمایه کړی او زما دا امارت
وساتی پښتنو هم عهد ور سره
وکړ لاس یی ور کړ ، له خپل
دودا ودستور سره سم یی دده
ساتنه او دده دمشرتوب او امارت
حمایه په غاړه واخیسته دی ئی
دپښتو نخوا مرکزی برخی
غزنی ته راووست په دغه ځای
کښی یی دغزنوی پښتنی حکومت
په نامه جلا او یو ځانګړی
حکومت جوړ کړ . داغزنوی
حکومت دپښتنو له نورو حکومتونو
څخه لکه دسامانیانو او غوریانو
او دغرځستان دشارانو او دسیستان
دصفاریانو او دملتان دلودیانو
له پښتنی حکومتونو څخه چه په
هغه عصر کښی یی لرل ځانګړی
مستقل حکومت جوړ شو ، دی
حکومت له دغو حکومتونو سره
دقومیت ګذاره کوله او دخپلوی
روابط یی ورسره لرل خوله دی
امله چه غزنوی حکومت
دپښتو نخوا په مرکزی برخه
او دپښتنو په منځ کښی ؤ بلکه

دپښتنو په زبانه مهمه برخه کښې
اوو یلای شو چه دپښتنو په زړه
کښې بې ځای نیولی ؤ ، نوورخ
په ورځ بې اعتبار او نفوذ زیاتیدو
اولمنه بې پراخیدله، لکه چه په
دغه حکومت کښې دیو بل زلمی
منځ ته راتاو په اثر چه له سلطان
محمود غزنوی څخه عبارت ؤ ،
دغه دپښتنو منځنی غزنوی حکومت
زیاته ترقي وکړه چه په نتیجه
کښې بې دافغان یوه خو راستره
اونا مداره امپراتوری تشکیله
کړه اول له دی کبله چه نو موړی
محمود دیوی زابلی پښتني
میر منی زوی ؤ ، او له پښتنو
سره یې د خوریې نوب او ماما
ګلوی را بطه درلوده ، او له
دغې لیاری محمود، پښتنی سجایا
او پښتنی خو یو نه لرل ، لکه
چه یوه عربی مقوله ده
(الولد الحلالی یشبهه الخال)
(حلالی زوی ماما ته وی)
نو موړی محمود یو سو چه
او خالص پښتون ؤ دپښتنو تولی
خاصی پکښې وی ، دماما ګانو
پښتنو شجاعت، پښتنی جمعیت
او لوړ همت بې په خته کښې
اغېزل شوی ؤ . له بلې خوا چه
پخپله دی هم دخو راښو صفاتو
او پوره ذکاوت خاوند او د
سلطنتی چارو به باب کښې بې
ښه تدبیر درلودنو سر بېره پردې
چه دی، دپښتنو خوریې او دپښتنو
دنسبیت خپلوی پکښې وه دنورو
ښو خو یو نو له لاری بې هم
دپښتنو په زړونو کښې ښه ځای
نیولی ؤ، نوله دې سره پښتنو پوره
موافقه او مرستې کولې دنوموړی
محمود ترقي او پرمخ تګ
بل علت داهم ؤ چه ده په اول
قوم کښې دپښتنو دسامانی حکومت
له یا چهانو سره ددوستۍ
او وفاداری لاره غوره کړه او دهغو
پښتنو پاچهانو خپلوی او دوستی
یې هم ځانته حاصله کړه او په
پښتنو کښې ئې دهغو له نفوذ څخه
هم زیاته استفاده وکړه نو ددغو
اسبابو نو او عمتو لو په اثر ده ته پوره
داد حاصل ؤ ، نو ده د پښتنو
پرمټ باندې داعتماد او کاملې
تکیې په اثر دپښتنی امپراتوری
پراخوالی ته ملاوتړله او دهغوی
په مرسته یې خو راستره
امپراتوری جوړه کړه چه تر
ایران او دهند ترغربې برخو
پورې دغزنوی پښتنی امپراتوری
لمن اوزده شوه . او دغزنوی
پښتنی حکومت علم او ادب نه
زیاته ترقي ورکړه او د علمی
روژنې او دپوهانو د منځ ته
راوړلو د پاره یې خورا زیات
خدمتونه وکړل.

لکه فردوسی ، ابوریحان
بیرونی احمد حسن میمندی او نور
دادول زیات فضلا د غزنوی
حکومت په دور وکښې منځ
ته راغلل لنډه دا چه په دغه عصر
کښې افغانستان د علم فضیلت
مرکز شوی ؤ . او سربېره پرهغه
د سلطان محمود په عصر کښې
سیاست، تجارت او صناعت
او نورو مدنی شئونانو هم زیاته
ترقي کړې وه ، چه په دغه دوره
کښې په رښتیا سره بولوی مدنی
افغانستان جوړشوی ؤ.

نوله همدغه امله د مصری
لیکوال بنا غلی محمود
عباس العقاد، داخبره حقیقت
او رښتیا ده چه ویلی یې دی چه
که څه هم غزنوی پاچهان
د نژاد له مخې ترکان ګڼل
کیدل ، خو چه دوی پښتنی
تربیه اخذ کړې وه او دپښتنو په
وطن او خاوره کښې پیدا اولوی
شوی وو، او د دوی حکومت
د پښتنو د مټ په زور حمایه
کیدونو دوی پښتانه او حکومت
یې هم د پښتنو حکومت ګڼل
کیدونه بل څه ،

اعتراف

(شیلتان)(۱) کړل مخاطب فوج پیاوړی.
«په جنګو د پښتنو شو وستومان ستړی

د(فرنګ) د توریالو په وینو سرې شوې
ددې سیمې څه ژوری دی که لوړی

له سرو مو څلی جوړ کړل غلیمانو
په (کابل) کې مو نور نه ځائیږی مړی

ننګیالی پر سخته نه اچوی زړو ته
توریالی پر تنګسه نه تښتوی غړی

په سنګر کښې به تر څو وراسته پراته یؤ ؟
ترمری به راتاویږی د بل پړی

(ننګرهار) ته بویه ولیږ دی فوجونه
په همت سره تر سره کړی دا شخړی»

دفوج مشرور ته وې « د قام غښتلې !
دخونخوار وشه تر خوله دسرت کپړې

د (فرنګ) په تاج قسم که وزوډاك ته
مچوو د زمری خوله د پړانك خپړې

که موزړه وی چه به ځان ساتو په توره
د سیلاب مخی ته غور ځو و خسړی

که هر سرد فرنګی ، تر سنګر وزی
د غلیم د آس تر سوولاندی به رغړی

ننه باسی د زمرو په زامو موتی
چه په ډاګه پښتانه ته لیڅی غړی

ښاغلی پسرلی

اوښکی

لیمو کی مې مینی خاطرې اوبه، اوبه شوې
هاتانه سمپولی نظارې اوبه، اوبه شوې

بیا زما په ستړی زړه کړې مګر بله دنیا جوړه
راځه کنه په زړه کښی می اسرې اوبه اوبه شوې

جذبات می دزړه ګرم وو، که ستا مخ سوځوونکی؟!
چه تا نه می کتلو ننداري اوبه اوبه شوې

پخپلو ښکلو اوښکو می باور ندی داوښکو
په ستر ګو کښی می ستا نازو نخرې اوبه اوبه شوې

دمینی ترانی می نور له اوښکو څخه اوری
دزړه په زیروبم کښی می لارې اوبه اوبه شوې

اشنا، لږ څه را بیرته شه، چه یوئی وړم له ځانه
را تولی په ګریوان خورې وری اوبه اوبه شوې

اثبات دشپې په ورځ شی، حال له سپینو اوښکو پوښته
په ستر ګو کښی می دا تورې تیاری اوبه اوبه شوې

له هر نقشه می پرې منځلې ستر ګی له تا پرته
په ستر ګو کښی می روې ستارې اوبه اوبه شوې

دا سپینې اوښکې ندی چه بهیږې لارې، لارې
په تا پسی دسوی زړه نارې اوبه اوبه شوې

شمع

تاسو رازو ناز په غړو لو ستر گو نه شو کولای، ستاسو په ستر گو د ظلمت توره پرده غوړېدلې وه او تاسو په همدې ارمان کښې وې چه مونږ به څنگه او کله سره په غړو لو ستر گو و گورو، یو به دبل په لیدو کله سره د انتظار غمونو څپلې ستر گې سړې کړو.

ستاسو دامبدونو او هیلو ستر گې زما پر خوا کېږې وې، همداوه چه دخپل تیاره محفل درڼا کولو دپاره موزما په سر باندې اوربل کړ.

زه سوزم، زما په سپین مخ غټی، او لۍ، او لۍ او ښکی ښکته روانی دی خو په دې غرض، چه ستاسو په محفل به بیا عالم گیره تیاره خپره شی او د آرزو گانو تنکی گلو نه به مو ورژېږی؛ زه پرځای ولاړه یم او وایم: خیر دی که زما پر سر اوربل دی او سوزم خو پرېږده چه دوی سره دخپلو ارمان جنو زړونو تاوده آهونه او اسویلی ساړه کړی، یو بل ته زما په رڼا کښې ځیر، ځیر و گوری، د توري شپې یه حاویه چو په چو پیا کښې دقال پرځای دستر گو په مړاؤ مړاؤ اړولو راړولو او نرمو نرمو رمزونو یو بل ته خپلې هیلې القاء کړی، او د همدغې گړیء ارمانی زړونه سره یخ کړی، دطبیعت پر خلاف د خلکو سپینه ورځ پر دوی شپه، او دخلکو شپه، زما په سره پر دوی رڼا ورځ ده، هغه د کیف منظره چه خلک ئې د آسمان دځلاند لمر په رڼا کښې وینی، هغه دوی ته زما په رڼا کښې ور په برخه دی.

نو خیر دي که زه سوزم خو چه دوی خوښ وی او یو بل ته په غړو لو ستر گو زما په رڼا کښې و گوری، ددوی خوښی زما معراج دی او بس.

ای دمینې او محبت په خمار مستو! تاسو سره خو زما د سوزو گداز هېڅ حس نشته، خو ستاسو دې زما د سپین مخ پر بهنده او ښکو قسم وی چه خپل راز و ناز مو پای ته ورسا وه، نو هغه اور چه دخپل محفل درڼا کولو دپاره موزما پر سر بل کړی دی، هم مړ کړیء. (پاتی په ۲۷ مخ کښې)

باغوانه

زمانی تاته دا تازه نهال دروسپار .

ستا خوښه چه وچوې ئې یعنی دیوې وچی لښتی په شان اور لړونی ځنی جوړوې او که دا نهال په خپل باغ کښې روزی !

که اور لړونی ځنی جوړ کړی یوه وچه لښته به شی ، ډېر لږ وخت به اور په ولړل شی او وبه سوځی مګر که ته دا نهال وروزې ستا د باغ یوه لویه ونه به شی تاته به ډېری نوری لښتی وکړی . ګل به وکړی شګوفه به ئې شاعران ووینی او د ګل د لطافت سندری به ئې په پخپله ژبه وستائې میوه به وکړی - دمېوې څخه به ئې ډېر انسانان خوندواخلی نه پوهېږم چه ته دهمدې نهال څخه د کوم ډول استفادی هیله لرې ؟

هغه که دغه یعنی دیوې لښتی په شان داور لړونی که دیوې ونی ونی په حیث د ډېری استفادې !

دا اختیار تا ته قدرت در کړی دی او د همدې دواړو لارو څخه . زه خووایم چه ته د همدې نهال څخه اور لړونی مه جوړه وه بلکه دا نهال د یوې ونی په شان ور وزه - دهمدې نهال په روزنه کښی خپل مهارت وښیه .

ددې نهال دووزنی په وخت کښی د خپل تندی څخه خولی وبهوه .

ګوره ! ستا دا خوله بهېدل ستا قدر ډېر وی تا دیوه باغوان په شان پرچا ګرانوی تاته شاعران رابولې چه ستا دهمدې نهال شکوفه وستائی - تاته نجونی راولی چه ستا د نهال شکوفه په خپل اور بل کښی وتومبی . تاته ماشومان راولی چه ستا دهمدې نهال میوه وخوری - پرتا ځوان اوزوړ راغونډوی . اوس نو ستا خوښه چه ته بېله ستړیا دهمدې نهال څخه په همدې شان لنډه استفاده ؛ دیوه اور لړونی په حیث کوې او که ټول وګړی پرځان راغونډول غواړې .

زه دلته ستا د باغوانۍ هغه یټ استعدانه منتظریم چه ستا سره شته او په کار اچولی ئی هم ستا په لاس کښې دی .

که ستا سره دیوه نهال په روزلو کښې دیوې لوی ونی دجوړولو نظرهم وی او دیوې لوئی ونی په جوړولو کښی دخپل باغ دسمسور تیا خیال.

کهستا د سمسور تیا د خیال سره د ثمر مفکوره او دهغه نه دنورو داستفادی، څه تصورهم وی نودا نهال مه غورځوه او یوه وچه لښته مه ځنی جوړه وه چه تش داور لړونی کار ځنی واخستل شی بلکه دهمدې نهال سره دهغه اوربل دخاوندی دښایست خیال هم ساته چه سره له کبرو نازه بیاهم ستا دنهال پرخوا کښه رزه راروانه شوې ده او ستا دهمدې نهال شکوفه په خپل اوربل کښی تومبل غواړی.

گوره! ستا توجه دهمدې نهال په روزلو کښی ډېری نازنینې ستا همدې نهال ته دروستلا شی ستا دهمدې نهال روزنه ستا دپاره یوازی د نهال روزنه نه ده بلکه دهمدې روزنی سره دهغه اوربل دښایښت انتظار هم په نظر کښی لره او داډول نازنین له ځانه مه نا مینده کوه. یادا چه ته ئې په لښته اور مه بلوه بلکه په شکوفه ئې په اوربل کښې اور بل کړه. ((ژواك))

(د ۲۵۵ مخ پاتی)

زه به بیا هم ستاسو په ښه راشم. زه بیاهم، هغه څه کولای شم چه دهغه دپاره تاسو زما پر سر اور بل کړیؤ یعنی زه بیا هم ستاسو تیاره محفل رڼا کولای شم.

زه بیا په خپلوا وښکو قسم در کوم چه ستاسو هیلې پوره شوې، یو دبل په لیدو ماړه شوی ء او هغه لمبې چه ستاسو پرزړونو بلېدې، زما سرته راغلې، زما دسر لمبه مړه کړی ء او لږ شانته ځای ما ته هم دارام په غېږ کښی را کړی ء.

زین الله

(فرض العین)

یوله هغو اثرونو څخه چه پښتون محمد د «خزینة القراء» لیکونکی په ۱۲۶۲ هجری کال کښی په بخارا کښی په پښتو نظم لیکلی دی «فرض العین» دی. څرنګه چه دا اثر لیدل کېږی د سر له خوا درست او په ښکاره ډول ترې معلومېږی چه دا یو اثر دی چه په پښتو نظم د اسلام د پنځو بناؤ فرایض او احکام پکښی بیان شوی دی. او په دې منظور چه پښتانه ځنی مستفید شی لیکل شوی دی ځکه د دې مجموعی په آخر کښی لیکونکی په خپله وائی:

ګوندی وی چه پښتانه ترې نفع و اخلی * ځکه ډېر خلق په علم کښی کم خوان دی

دا مجموعه په دیارلسو پاڼو کښی لیکلی شوې، او پر دې کښتنیو «۲۰» بابو مشتمله ده.

لمړی باب: حمد، صلوة او د پنځو بناؤ بیان.

دوهم باب: د کلمه طیبې د فرضونو بیان.

دریم باب: د استنجاء بیان.

څلورم باب: د اوداسه د فرضونو بیان.

پنځم باب: د غسل د فرضونو بیان

شپږم باب: د غسل د فرضېدو سببونه

اوم باب: د تیمم د فرضونو بیان.

اتم باب: د لمانځه د فرضونو بیان

نهم باب: د زکوة د فرضېدو شرطونه.

لسم باب: د زکوة د مصرف بیان.

یولسم باب: د زکوة د فرضېدو بیان.

دؤلسم باب: د روژې د فرضونو بیان.

دیارلسم: د حج د شرطونو بیان.

څورلسم باب: د حج د فرضېدو بیان.

پنځلسم باب: د څلورو مذهبونو بیان چه ټوله پر حق دی.

شپاړسم باب: د فرض، واجب او غیره احکامو د تعریف بیان.

اوه لسم باب: د لمانځه د واجباتو بیان.

اتلسم باب: د لمانځه د محرماتو بیان.

نولسم باب: د لمانځه د فاسېدو بیان.

شلم باب: د لمانځه د آدابو او حرمت بیان.

د دې دپاره چه د پښتون محمد د دغه کتاب د لیکلو سبک معلوم شی، صرف د دې رسالې

شلم باب چه د لمانځه د آدابو په بیان کښې دی نقلوو

د احدیث د پیغامبر (ص) دی مالیدلی — د لمانځه په باب کښې پاك رسول (ص) ویلی
که څوك لمونځ په ښه ترتیب سره ادا کا — کل احکام ئې په ځای راوړی پسند یدلی
دغه لمونځه ئې سپین مرغه شی تری پرواز کا — خوش خرم وی ودر گاه ته دحق تللی
وائی زه دی خوښ رخصت کړم ودربار ته — خدای (ج) دی تاهم تل خوشحال لری ساتلی
دا دعا هم شفاعت به دتا تل کا — ستا په گور هم په قیامت مل دی ښاغلی
دلمانځه دعا قبوله په هر ځای ده — چه عاقل وی په دا قول پوهیدلی
او که لمونځ ئې بې ترتیبه خوار خسته کا — دغه لمونځ به بد صورت شی تور یتیلی
ودرگاه دحق ته تلای نه شی راستون شی — په مثال دتور زړو کی زوړ پیچلی
پروهی به ئی په مخه لعنت پروائی — له درگاه دحق دی منع کړم رتلی
ته هم هسی شرمنده شې په دوه داره — لکه زه دی په درگاه یم شرمولی
زه دی منع له دیداره کړم بد بخته — په بد فعل د خدای (ج) قهر دی راغلی
مومنانو خپل ځان ژغوری له دا کاره — په لمانځه کښې حق بنده دی آزمویلی
پښتانه دی فهمدار شی په لمانځه کښې — (محمد) ځکه پښتو کتاب لیکلی

او هم ددی رسالې په وروسته کښې بیله کوم عنوانه د کتاب دلیکلو موجب کال او ځای په واضح صورت داسی یادوی .

محمد غریب چه کړی دا بیان دی — امید وار دائم له عفوه درحمان دی
هم امید کړم ددعا چه کتاب وائی — گناه کاریم ترحد زیات زما نقصان دی
گوندی وی چه دا دعائې شې قبوله — درب رحم کرم زیات تل په عاصیان دی
خدای (ج) دی وبخښی کاتب قاری سامع هم — چه لولی دا کتاب یائې جویان دی
سن دهجر یو زر دوه سوه دو شپیته ؤ — د اتمام په بخارا شریف مکان دی
(محمد) کله لائق ددی کتاب ؤ — شفقت د پیر کامل باندی عیان دی
چه صوفی صاحب نومید په بخارا کښې — ډیر کرم وربا ندی کړی پاك سبحان دی
هیڅ حاجت دتوصیف نشته چه ئی وایم — مستقیم په شریعت تر لمر روښان دی
(محمد) چه په پښتو ژبه ویل کا — جا رو کښې یم دده در دارالامان دی
گوندی وی چه پښتانه تری نفع واخلی — ځکه ډیر خلق په علم کښې کم خوان دی
الهی کتاب تمام شه رحم وکړی — په ما هم په کل عالم چه مسلمان دی

د دی کتاب په دوهمه برخه کښې لمړی یو د عشقی غزل او ورپسې دغوث الاعظم قدس الله سره مناجات دقصیدی په صورت لیکل شوی دی . خو متاسفانه دپای پاڼی ئی تری بېلې شوی او دغه مناجات ناقص پاته شوی دې . نه یو خبر چه ورپسی پاڼې به ئی څومره ، او څه به پکښې لیکل شوی ؤ په هر صورت ، غزل ئی دادی: (پاتی په ۳۲ مخ کښې)

حقوق او اجتماعیات سره

ښاغلي عبدالوکیل امیري

دحقوقو دپوهنځي محصل «ترجمه»

حقوق داجتماعي حیات په غیږ کښې پراته دی او تولې حقوقي حادثې نسبت تولو اجتماعي علوموته چه اجتماعیونو دهغو مناسبات په اجتماعیاتو پورې مربوط او نژدی ګڼلی دی، په لاندې ډول سره ګورو:

(۱) اقتصادي حوادث ټول اجتماعي دی مګر مهمه برخه ئې مادي ده لکه دطلا دیوه، کان کشف کول چه یوه مادي حادثه ده نه اجتماعي.

(۲) اخلاق: که څه هم اخلاق اجتماعي ګڼل کېږي ځکه انفرادي اخلاق هیڅ موجودیت نلري خو سره له هغه داخلاقو ساحه دافرادو دحیات داساسي کرښو سره تماس لري ځکه چه دهغو اعمالو مجازات چه داخلاقو مغائر واقع شوي وي نسبتاً خفیف معلومیږي خو که دحقوقي اعمالو نه تخالف وشي مجازات ئې هم پخواورته معین شوي وي لکه چه دور کهایم، ویلي دي:-

حقوقي مجازات منظم او اخلاقي مجازات همېشه خوار واره دي که دذکر شوي عالم وینا تفسیر کړو داسې ښکاري چه حقوقي دستورونه دا جتماعي ژوند د حقیقي رمزونو ترجماني کوي او د حقوقي مقرر اتو پراساسي نفعو باندې لکه جرم، جنحه، ملکیت، دفامیل جوړول او نورو بنامو ندلې ده، نو له دې نه معلومیږي چه دیوي ټولنې موجودیدل بې له حقوقو څخه تصور کېدلای نشي لکه چه وائي:- په هغه ځای کښې چه ټولنه ده، حقوق هم شته او په هغه ځای کښې چه حقوق شته ټولنه هم موجوده وي چه دواړه یود بل سره لازم او ملزوم دي که یوئې وي نو بل به ضرور ورسره وي نو ددې لپاره چه دحقوقو اجتماعي حیثیت ښکاره شي په لاندې ډول توضیح کېږي:-

(۱) دحقوقو منابع

(۲) الف د حقوقو پرنسیب

(ب) دحقوقو موسسې او دهغوی

څه اړه لري؟!

دستورونه پریوبل باندې تطبیق کول- دحقوقو دمنابعو لویه برخه پروفیسر (ژمي) پخپل غوره اثر (دتفسیر متوداو دمثبته حقوقو منابع) کښې تحلیل او تحدید کړي دي چه دهغه دحل او جزئي مسائلو نه صرف نظراو په یوه خبره ئې اتکا کړو هغه داده: د حقوقو حقیقي منبع همغه دټولنې معشري روح یا اجتماعي وجدان دي چه پاسني حقوق ورباندې تطبیق کېږي) ددې مفکورې په اساس دقانون، دعرف او تعامل په منځ کښې حقیقي توپیر ښکاره کېدلای نشي، مګر فرق ئې صرف د درجې له حیثه یا له تقنیني اصول څخه ښکاري دمحاکمو اجتهاد هم ددې پرنسیب لاندې راځي چه دا اجتهاد درومن او «انګلو ساکسیون» په حقوقو کښې حقوقي جنبه لري خود فرانسي په ننیو حقوقو کښې محدود دي ځکه چه اوس قانون نامې تدوین شوي دي چه په هغه وجه ئې اهمیت کم شوي

دی حقوقی قواعد په حقیقت
کښې دیو ې ټولنی اجتماعی
رابطې لکه چه دوی ئې په نظر
کښې لری ظاهره وی نوله دی
کبله ویلای شو چه دیو حقوقی
دستور اصلی منشاء دو مره
د مقنن په اراده کښې نه وی
بلکه زیا تره په هغه احتیاج
کښې وی چه پخوا ورته پیش
بینی شوی وی.

نولازمه ده چه مقنن د بر
دقت و کړی او هغه احتیاج
چه دقانون تر تأثیر لاندې
راځی په نظر کښې ونیسی او بیا
قانون وضع کړی.

(۲) پر نسیب او موسسې :-

(الف پر نسیب :- دحقوقو
عمومی پر نسیب چه اکثراً
دمقاولو په واسطه ښول کیږی
دحقوقو اجتماعی صفت ظاهروی
مثلاً (دقانون څخه ناخبر تیا
عذر نشی کیدلای) که حقوقی
دساتیر دیوه سړی او یا دڅو
محدود وتنو څخه راوتلی اود
هغه تعمیل پر نور باندې
حتمی شی دا به یوه معماوی او
دتعجب وړ به وبلل شی مګر هر
کله چه حقوقی دستور رونه
دیوه جمعیت دمعشری روح
څرګندول بلل کیږی چه هر
څوک ئې په تشکیلو لو کښې
سهیم وی نو ځکه طبیعی امر
پیژندل کیږی او تعمیل ئې
اجباری دی دلته معلومیږی
چه عمومی اعتقاد که څه هم
پرخطا لاره تللی وی حقوقی
مناسبات راوړی یعنی عامه
سهوهم قانون کیږی اجتماعی
موجودیت بو حقیقت یا له هغه
نه زیات بلل کیږی :-

(ب موسسات :- عوره مثل
پدې ځای کښې دموسسو
دتصرف څخه دی تصرف په
ظاهری صورت دادی او که دا
ظاهری صورت د حقیقت سره
موافق یا مخالف وی نو هر تصرف
که محقق وی او که غیر محقق
دقانون له خوا حمایه کیږی
او دتصرف دپاره قانون دمتصرف
حسن نیت په نظر کښې نیسی
په دې ډول سره دیوه غله تصرف
هم دقانون له خوا محترم ګڼل
شوې دی ځکه دا تصرف په حقیقت
کښې دمشروع ملکیت ظاهری
صورت لری تر دې حده پوری چه
ځینی وختونه نامشروع تصرف
هم دیوه سالم حق په څیر پیژندل
کیږی او دسوء نیت متصرف ئې
دحقیقی مالک په څیر بدلیږی
نولازمه ده چه ذکر شوی تصرف
دلازمو شرائطو لاندې دوام
موندلی وی دلته د زمان تأثیر
لیدل کیږی چه وروور و
دمشروعیت عقیده به ذهنو کښې
قائموی دفرانسې مدنی قانون
نامې د ۲۲۶۲ مادې په اساس
هغه څوک چه دیرش کاله دیوه
شی تصرف په لاس کښې واری
نو دهغه خپل څښتن ګڼل کیږی
که څه هم دده تصرف په ناه مشروعه
لاروی دلته یو سوال پیدا کیږی
چه د کوم استدلال په اثر دا حق
دسوء نیت څښتن ته ورکول
کیږی؟ اکثر عالمان وائې چه
داشکل ئې دحقوقی توازن لپاره
کښیښودای دی او هم د ټولنی
داعتبار له حیثه چه ظاهری شیان
حقیقت ته نژدې بولی او دا ر نګه
احوال عموماً په نظر کښې قریب
لیدل کیږی چه ظواهر په یوا ځی
والی سره یو ذهنیت پیدا کوی
او دا ذهنیت به ورو ورو په حق
تبدیل کیږی دلته مجرد منطق
په خلاف دمرور زمان پواسطه
هغه مقاولې او هغه قراردادونه
چه په ناقص ډول سره عقدشوی
وی دروغو مقاولو غوندی
نتیجه ورکوی مثلاً بعضی ناقص از
دواجات او ځنی ناقصې مقاولې
یا وصیت نامې چه د مرور زمان
پواسطه دسالمو اقاولو غوندی
نتیجه ورکوی. اوس یوې بلې
خواته موضوع بیایو او بحث نه
دوام ورکوو :-

دنن ورځی یو بل غوره اجتماعی پرنیسپ چه د اجتماعیونو له خوا پیشنهاد شوی او د حقوقو عالمانو قبول کړی اترو تطبیق لاندې ئې نیولی دی دا دی :-

یو حقیقی گروپ منځ ته راوړی چه بالکل د هغو عناصرو څخه چه کلیت ئې تشکیل کړی دی تو پیرلری د بشری تولنو د حقوقی شخصیت مفهوم له تجارتی شرکتونه تر عامه حقوقی موسسو پورې بی ددې د کتورینو د حقوقی تفسیر نه به بل څه شی نه وی . البته دا د کتورین به د تولو حقوقدانانو له خوا بی عکس العمل نوی پاتې اولا تر اوسه ډېر حقوقدانان دغه پر پیچه لاری بی فأیدې تعقیبوی خو ددې موسسو حقیقت، نتیجی او مفهوم (اجتماعی مفهوم) ئې په هغه حقوق دانانو باندې چه خپلې نظرئې د حقوقو پر اجتماعیت باندې برخلاف قائمول غواړی

(۳) تفسیر او تطبق :- د حقوقو د اجتماعیت صفت د تفسیر او تطبیق څخه په ښه توگه ښکاری :-

الف : تفسیر : هر کله چه حقوقی د ستورونه زیاتره د معشری روح یا د اجتماعی گروپ د معشری روح نه منبع نیسی نو که د حقوقو تفسیر یو اځی د مقنن دارادې په پیدا کولو سره مختص وبولو په حقیقت کښې د حقوقو اصلی صفت مونه دی پیژندلی — حقوقی د سایتر هر کله چه یو وار تقنین شی نو پخپل ذات کښی یو خاص ژوند حاصلوی او تکامل کوی چه دلته ډېر مثالونه شته اولېدل کېږی چه قوانین خپل لمړنی مفهوم بایلی

(ب) : تطبق د حقوقو د اجتماعی صفت پیژندل په افاقی صورت سره د هغه د دستورونو نه معلومېږی :- په دې ډول چه رومیان دې نکتې ته متوجه شوی وو او همیشه به ئې د عائلی یو ښه رئیس په نظر کښی نیوه . بې شکه لازمه ده چه حقوقی د ساتیر تریوی اندازې د حوادثو په ایجابولو مشخص کړو اما دغه رویه یعنی دغه د عندی خطراتو رویه چه محکوم د قاضیانو د فردی احساساتو ترلاس لاندې نیولی کېږی موجوده ده د حقوقو د اجتماعی صفت پیژندل یو مهمه وظیفه ده چه دا رویه له مساوات څخه ده مگر د هغه چا په باره کښی چه د هغو حقوقو تر نفوذ لاندی راځي .

(د ۲۹ مخ پاتی)

غزل

نن نوشلی ما د یار د لبو جام دی — داخسته خاطر می ځکه په آرام دی
چه می نوش ستا د لبانو سره پیاله کړه — هیڅ مقصد مې باقی نشته کل تمام دی
چه حاصل راته د یار بوسه کنار شه — نن پاچا د زمانې زما غلام دی
چا چه بیاموندہ لذت د یار له شونډو — د دنیا لذت په ده باندی حرام دی
د دنیا په نعمتو نو غره مه شه — خبردار شه په هر صبح پسی شام دی
دا دنیا ده نن زما سبا د تاوی — مال، متاع د دنیا لنگ د هر حمام دی
که یو دوی ورځی خوشحال شی آخر غم دی — کامرانی د دی جهان واړه ناکام دی
چه داخل په دا دنیا دی سبا د رومی — بې له خدا یه (ج) چه باقی علی الدوام دی،

هغې خواماته یوه ښه سپینه پګړۍ د رسره راوړه، او هم به دنسوار و یو د بلی دخیره سره راوړې چه زما دا چا په ما جت کښې راڅخه پټ کړ.)

ملاصاحب چه داوینا خلاصو له دخپل څادر په پلوئې (بنګ) درې پلاسو که سو که وواهه او هم ئې په پنجه په اوږو کښې ورو وواهه. په دې نو ګه ئې دده دپاره دیوې ښې مسافرۍ دعا وکړه (بنګ) د ملاصاحب له دغه وضعیت نه خوراخوشحاله شو، او د کورخواته چه موراوخویندی او نوړۍ ورته منتظری وې رارهی شو ده په لنډ صورت له دوی سره خدای په امانی وکړه او رخصت ئې ورځنی واخیست او دقرآن شریف نه لاندی چه دخور په ټکری کښې ئې دواړو خویندوجګ نیولی ؤ تیر شو، او بیله دې چه ترشا بېر ته وګوری د کلی لوبې لارې ته راشیوه شوه او مخ په قندهار روان شو. پر لاری تر ډېره حده پوری د مور او خویندو کریږی دده له غوږو څخه نه وتلې او هره پلا به ئې زړه پرله وایسېد.

* * *

(بنګ دیوڅه مزل نه وروسته، په یو ځای کښې دیوې چینی په غاړه یوه ګړۍ کښېناست او له (بنۍ) څخه ئې یوڅه نینې او توت را وکښل او هغه ئې وخوړل فکر ئې وکړ چه دا به ښه وی داډوډۍ یو بل وخت ته وسپموم، او که کوم کلی ته ونه رسېدم نو به په هغې خپله ګذاره وکړم، ده شپه په یو کلی کښې تېره کړه، سهار وروسته تر لمانځه بیا په لاری رهی شو وروسته تر دوو درېو ساعتو مزله، یوې لوړې ته ورسید او عو ښتل ئې چه له هغه ځای نه شیوه شی، په دغه وخت کښې یو زغ پروشو چه: (و درېږه او د شا پیټی

دې واچوه) بنګ چه خپلې ښې خواته و کتل ګوری چه درې څلور کسه یوې لویې ډبرې ته ناست دی او یوه سړی دتوپك خوله په ده باندی را ځوړنده کړې ده نوسمدستی په دې یوه شوچه داغله دی . او په تلوار سره ئی بنۍ په ځمکه کېښودله او دواړه لاسونه ئی اوچت و نیول یوه غله پرې رازغ کړل چه هلکه ! ملګری دې شته او که نه ؟

هغه وخت چه ده دنفی ځواب ور کړ ، نو یوغل ورته رانږدې شو او دده په رښکۍ رښکۍ پګړۍ ئې لاسونه تینګ وروتړل او (بنۍ) ورسره راواخستله اوامرئی ور کړ چه دهغی ډبرې په خوا روان شی .

له غلو نه یو تن وویل چه : دغه خوښه ، غښتلی زلمی ښکاره کېږی که ئی زړه دزمری ؤ او مټی ئی قوی او غښتلی وی نو زمونږ دپاره یو ښه ملګری کېدای شی . خو په دې شرط چه د ..... قبیلې څخه نه وی : بیائی د (بنګ) څخه پوښتنه و کړه چه : (په بنۍ کښې دې سره دی او که سپین ؟) یوه غله ژر ژر د بنۍ خوله خلاصه کړه او چه وې لېدل کوم د کار شی پکښې نشته نو وې ویل چه : دې حرمونی خو بیله یوې لپې نینو او یوڅو دانو توتانو نه نورڅه په بنۍ کښې نه دی اچولی ، یواځی یوجوړه زاړه خیرن کالی پکښې هم شته نو بیائی (بنۍ) ته څادر وغوړاوه او بنۍ ئی ورباندی راتشه کړه . یو بل وویل چه : (ترملائی هم یو څه غوټه ښکاره کېږی تاسو و ګوری ، ګوندی د روپو همیانۍ وی)

یو بل وویل ؛ که ئې دومره روپۍ درلودای ، نو ولې به دومره خوار ؤ زارؤ .

بل یو ورته راولاړشو او ژر ئې په هغې غوټې باندې لاس وواهه کوری چه یوه یوه نیمه‌خمیره ډوډۍ ده او په منځ کښې ئې یو څه غوښې دی .

دادې له کومه کړې ؟

دامې مور را کړی وې چه پر لارې باندې ئې دیو دوو ورځو خوړی کړم څه وخت له کوره راوتلی یې ؟

پرون سهار .

نو دې ولې دا تراوسه پوری ندی خوړلی ؟

دا مې سپمولې ! فکر مې کاوه چه په یوه تنګسه کښې به ئې خورم .

دا نو لکه چه زمونږ په قسمت وې .

(بنګ) ورته ووېل چه : (څه ښه ئې ویلی دی چه سپمولې سپوخوړلې) دا وینا ئې لاله خولی نه ، نه وه را ایستلې چه یوه غله ورته په مخ باندې ترنګ څپېړه ورکړه .

له کومه راځی ؟

له غزنی څخه .

چیرته درومی ؟

قندهار ته .

دڅه دپاره ، اوهلته څه غواړی ؟

دخوارۍ غریبۍ دپاره اونس اړوم . اوخواری اوزحمت کاږم که می دمور اودوو خویندو دپاره یوڅه پوښ برابر کړم . خویندې دی ښکلی دی او که نه ؟ ماته به یوه رانه کړی ؟

دغرونو خلك چیرته دسمی دخلکو سره دوستی اوخپلوی کولی شی .

تاسو خو لکه دغرونو لیوان داسی یاست ، بیا ترنګ شو یوه په څپېړه په مخ وواهه . یوه بل دغونوروته وویل چه اجازه ور کړی چه یو کار توس ئی ترزړه وروباسی . خود غلو مشر هغوی له دغه ډول اقدام اوجرائت څخه منع کړل .

یوبل غل وویل چه : څه ئی کوو چه خوار کی وژنو . خو له ئی لږه په واك نه وه ، که نه نور خو خوراښه زلمی دی ، پرېږدیء چه مورئی پری (بوره) نه شی .

دغلو مشر (ښنګ) ته په ځیزځیز و کتل اوپه یوه تهدید آمیزه لهجه ئی ورته وویل څه تصور کوی چه مونږ ګوندی غله یو؟ مونږ دی خدای نه غله کوی . مونږ خپل دښمن ته لاره نیولی ده : هره ګړۍ داهیله کوو چه په دی لاره راشی . اوپخپل مړدك ورته تېر په هغه ډول سوری سوری کړو څرنګه چه ده زمونږ داکا دزوی دا کړی دی . بیائی په تفحص آمیزه لهجه ورته وویل: ګل خان بیژ نې ؟

کوم ګل خان ؟ هغه دبر کلی ؟

هو ! هو ! هماغه ګل خان . هغه چیری ؤ ؟

هغه خو ما پنځلس شپاړس ورځی پخوا هغه وخت ولېد چه دعلاقه دار

دبټو حشر یا [اشر] ؤ او مونږ ټول ورغلی ؤ" یو بوږی توپك ئی په غاړه ؤ او کارئی کاوه ده هم ویل چه زه دښمن داریم . توپك له غاړی ښم اچو لای .

هو ! هو ! همدغه سړی دی ! ته له مونږ سره څه مرسته کولی شی ؟ که مونږ تا خلاص کړو او ستا دژمی خرڅ هم ټول در کړو ، نو ته به دغه گل خان له مونږ سره مړ کړی که یه ؟

(بنگ په لوړ اوصاف زغ ورته وویل چه : (له هغه سره خو زه او یا زما قوم هیڅ ډول دښمنی نه لری . تاسو ته معلومه ده چه که د گل خان خپل خپلوان خبر شی چه ما دده په وژلو کښی مرسته کړی ده نو البته دوی به نه یوا ځی زما بلکه د ټول قوم دښمنان شی او یو به دبل په وژلو پسی گرځی او دغه سلسله به دوام پیدا کړی او یو لوی مصیبت به ځنی ولاړ شی چه البته دغسی فجیعانه وضعیت تاسو هم نه غواړی ء .)

ددی ډلی مشر چه یو پوخ غوندی سړی معلومیده د (بنگ) خبره په خوند او همدردی سره واورېدله او ورته ئی وویل : زور نه دربانـدی راوړو ، که دې منلی وای ستا به پکښی گټه وای او په هوسائی به دی د ټول ژمی خرڅ گټلی وای . نو چه نه ئی منې څه به مخه دی ښه ! مگر یو شی دی ! که چیری بېرته گرزېدلی وی او گل خان ته دی دا نکل کړی ؤ ، نو ته په دې یوه شه چه زمونږ هم درته دبدی لاس دی ، او په هغه ډول سلوك به درسره کوو کوم چه له گل خان سره مونیو لی دی .

وروسته له لږی سا اوچولو ، دغلو مشر بیا وویل چه : (مونږ خو گل خان ناحقه نه وژنو چه پرهغه به ستا زړه وسوځی . او مړی تیری او تعرض دده له

خواشوی دی . زمونږ د کورنۍ یوه ځوانه کونډه دده ورور و تښتوله . څو مرکی مو پر و کړی ښځه ئی په لاس را نه کړه . او نه ئی تیره راسره و کړه سربیره په دی د کونډی لېور یوورځ سره له څو نورو کسانو ورغی او پر (گل خان) ئی خط راو کېښ چه یا به موتیره کوی او یا به خامخا کونډه بېرته په لاس را کوی. هغه یوه هم و نه منله، او سربیره ئی توپك هم پرهغه را واړاوه اوډز په تټر کښی ئی وویشت چه ځای په ځای ئی ساو ختله او مړ شو. ښائی دانکل به تاسو هم اروېدلی وی .)

هو ! اروېدلی مودی. چه تاد گل خان نوم واخست زه پری پوه شوم خوزه ستاسی په منځ کښی ، هېڅ کار لرلی نشم زه یوخوار بز گریم .نه ځمکه لرم، نه ئی اوبه . په دغسی و چه منډه باندی مو گذاره ده .پری می زده چه خپله لاره وهم . بیادغلو مشرلس افغانۍ له خپله جیبه راو کښلی او په داسی حال کښی ئی ور کړی چه یو بل غل ئی لاسونه ورخلاصول . اودغه پیسی ئی دده دنینو او ډوډۍ قیمت وباله .

(بنگ) په داسی حال کښی چه خپل زاړه کالی ئی په (بنۍ) کښی ځای په ځای کول په زړه کښی له ځانه سره وویل : ښه شو چه دالس افغانۍ خوئی را کړی ، او که دائی نه را کولای نوما خو په زور اخستلای نه شوې اوما به څه کول، څه ښه ئی ویلی دی: (دلیوه له خولی نه پښه ختلی هم ښه ده) بلامی په هغو یو موتی نینو پسی. اوس چه یو کلی ته ورسم ددوو افغانیولم به واخلم چه دمزله طاقت راته را کړی .

په دغه وخت کښې ډوډۍ ور په یاده شوه. دغلو مشرته ئې وویل چه که چېرې یو څه پاتې شوې وې هغه بیرته ور کړې هغه یو بل دوه ګیز نوټ ور کړ او اوورته ئې وویل چه: بیر ېږم چه اوس دخپلو لاسو تړلو تاوان را څخه ونه غواړې ځه ورک شه! زیاتې دې څه شولې راسره کرلې دی.

* *

(بنګ) له ځان سره چرت وواهه چه ښه دی عمومي سرک ته ځان وباسې او په سرک باندې لاړ شي ځکه چه دا یوه پاچائي لاره ده او خطر پکښې ډېر لږ دی او په دغه ترتیب به دغل غدۍ له سرداري نه خلاص شم. خو چه بیا به ئې فکر وکړ چه سړک خو ډېر اوږد دی او دده مزلونه به ډېر او اوږده شي نو په همدغه لاره تګ به ئې غوره وباله په پای کښې ئې قطعي فیصله داسې وکړه چه دا غیر معروفي او خطرناکې لارې پرېږدي او عمومي سرک ته ځان ورسوي خو بیا پر لارې چاورته وویل چه د سرک په شاؤخوا کښې کلي دومره سخي طبیعته او مسافر پالونکي ندي لکه چه د داسې لارو د شاؤ خوا کلیو خلک وي ځکه چه هغه تل دلار رویو او مسافرانو دلاسه په عذاب دي، او هره ګړۍ ئې مسافر زوروي، مګر سره له دې هم دده خوښه او میلان د سړک پر خوا ډېر شو، ځکه چه دده په مغزو کښې دا فکر پیدا شو چه ګوندي یو څوک به خدای را باندې مهربانه کړي او په موټر کښې به مې وړیا بوځي. نو دې هیلې دې خو را تشویق کړ چه ژر ځان سرک ته ورسوي.

(بنګ) شپه په لارې عمومي سرک ته ورسید د سړک په خوا کښې یو څو دکانونه دي چه ځینې ئې غذائي شیان خرڅوي په تیره بیا د تناره ژېړو

ډوډیو دده زړه له ورایه یووړ او په تلوارئی ورځنی پوښتنه وکړه:

داډوډۍ دخرڅلاو دی؟

هو: ځان ته خومې نه دی ایښی.

لویه ډوډۍ په دوه افغانۍ او کوچنۍ په یوه افغانۍ.

بنګ یوه لویه ډوډۍ واخستله او له درلسو افغانیو څخه ئی دوې افغانۍ ورکړې کومې چه دغلو مشر دده دنینو او ډوډۍ په تاوان کښی ورکړی وې داډوډۍ ئی داسې غړچوهله چه دنګولی او کتغ دپاره ئی هیڅ ضرورت پیښ نه شو. وروسته ئی له داښتی څخه پوښتنه وکړه چه قندهار ته موټران ځی؟

هو! هر وخت چالان دی.

ما به څوک وړیا یونسی؟

وړیا به دې ولی وړی؟ خو غښتلی زلمی ئې که پیسی نه لرې پخپلو پښو لاړ شه څلورمزله لاره نه ده دمنی سر دی، پوونده هم دغی خواته شیوه کیږی له هغوی سره ځان ملګری کړه. او که ددوی میږی او یا اوښان دې ورسره شړل او کډې دې ورسره بار ولی البته تر هغه ځایه پوری به دې خولۍ په غوړو کی وی او خپل قروت او غوړی به پریمانه وهی په هوسائی او خوشحالۍ به دخپل مقصد ځای ته ورسیږی او..،

ددکاندار دغو خبرو (بنګ) ته خورا خوند ورکاوه او لکه ګل په اوبو غوړیږی او له ډیری خوشالۍ نه ئی ددکاندار خبره غوڅه کړه او له ښه زړه څخه ئی ورته وویل (آهو! زما مقصد خو همدغه دنس اړول دی، په هره توګه په هر ډول چه وی، په موټر کښی تګ ما ته هیڅ ګټه نه لری، بلکه یو څه نقصان

راته کوی ، هغه‌داچه موټرخوسړی په‌یو ساعت کښی هلته رسوی اوغور ځوی‌ئی ، دامعلومه‌ده چه هلته به‌زه ژر کار پیدا کړم او که‌یه؟ که کار راته‌ژر پیدا نه‌شی نوخورا به په‌عذاب‌شم ځکه چه‌هلته‌خود کلیو په‌شان په جوماتونو کښی مسافروته ډوډۍ نه‌ور کوی اوزه‌هم دومره پیسې نلرم‌چه هغه‌ورته خورم.هو! خدای‌دې خیر درکړی دکاندار کاکا چه لا دې راوښودله اویوسم په‌زړه پوری مصلحت‌دې‌را کړ . فیصله هم په دې‌ده چه له پوونده وو سره به‌ځم اوخپلی با بولالې به‌ورسره بولم پوونده ښه خلك دی گوندی دماښام دڅملاستو دپاره به بړستن هم راکوی .)

دبړستن خبره‌ئی ځکه‌و کړه‌چه(بنگ)خوار کی ددوتیروشپو سړو سوځولې‌ؤ او په ډیر تکلیف ئې په ماجتانو کښی شپې سبا کړې‌وې . بنگ په‌دې ټکی ښه‌پوه وچه‌ناپیژندونکو مسافروته په‌ماجتونو کښی څوك باید تلتکان ورنه کړی ځکه چه‌تل‌ددې خطر وی چه‌سهارئی هغه تلتك هم له‌ځانه سره وړی وی . دغه ډول واقعات ده پخپل کلی کښی‌هم لیدلی وو . سبا دپوونده وو کډې راغلې اوپه سړك باندی تیریدلې ، سپی ؤسړی ، او ښان اوخره سره گډوو . ناروغه ،سپین سرې ښځې او سپین زیری‌داو ښانوپه بارو کی سپاره او یائې تړلی دی . کوچنیان ئې هم داو ښانو دبارو په‌سر کښی تړلی دی .

یوه خورا لوبه زوږه ده :څوك ژاړی .ځینو ښځواویا نجونو خپلی‌موچنې په سر باندی ایښی دی ،اولوڅی پښې دزرمی ،څوك اصلا موچنې نه‌لری‌او دیښو چاودې ئې له ورایه معلومیږی .

دچاچه‌بوده گان درانه‌وې‌نو خپل کوچنیان‌ئی په اوږو باندی کښینولی دی

اوبائي په ټکري کښې بيچلي او شاته ئې اچولي دي ، ځينو ميندوو خپل کوچنيان تيوته اچولي دي اوپه عين مزل کښې تې ور کوي . داوښانو دغاړو دګونګر و شرنګهاردي . څوك وائي . (هې اهې) څوك وائي . (هشه املادې ملته شه داسپك بارلانه شي وړاي) دځينو خرو او اوښانو دبارونو په باندي چرګان هم ناست دي ، اود بوده دهرقدم اخستلو سره ئې وزرونه سره بيرته کيږي . ځاي په ځاي دسپو سره جنګ شي او واړه . هلکان او نجوني ئې دسيل دپاره ودريږي . بيالوي خلك راشي او هغه سره خلاص کړي .

اويوبل ته په (بريد) کښې سره و ګوري چه يعني ستاسپي په ملامت ؤ.

(بنګ) بيله دې چه له چاڅخه يوښتنه و کړي اوياچا ته څه ووائي خپله (بنۍ) ئې په اوږه کړه اوله کډو سره راروان شو. په کډو کښې هري خواته ګوري چه کوم کهول لږ څه ښوي او غوړ لستوڼي لري اوپه اوښانو باندي ئې ډير شيان باروي دهغوي، په اوښانو پسې ځي او کله نا کله سو که له ځان سره وائي. (هې!) وروسته له دوه درې ساعتو څخه ئې يو سړي ته وويل چه کډې به څه وخت اړوي ء؟ هغه ورته وويل چه کوم ځاي ته درومي ؟ ده خپل حال ټول ورته ووايه ، هغه ورته په ځېر ځېر و کتل او بيائي ورته وويل چه تنه خودې دښه زلمي ښکاره کيږي ګوندې بدوك به نه ئي. که څه هم ترقندهاره پوري د څړه سړي دپاره څلور- پنځه مزله لاره ده خومونږ پوونده لږ څه په ورو ، ورو ځواو خپلې مېږي او ، او ښان څروو او پيايو ئي . نو مونږ به هغه ځاي ته ګوندي په ۷-۸ شپو کښې ورسيږو .

که دې خوښه وي له ما سره سه . زه به دې تر هغه ځايه پوري ساتم

خو په دې شرط چه زه یو اوښبه په کار لرم چه اوښان می وروسته تر هغه چه کډې واړوی څړته بیائي او هم به د کډی په بارولو کښی راسره مرسته کوی. نو که ته دغه کار ته غاړه کښیږدی البته زه به دې هم د خپل ورور په شان وګڼم، هغه څه چه مونږ ئی خورو او پکښی څملو تا ته به ئی هم در کوو.

(بنګ) خو له خدایه همدا غوښتل او سمدلاسه ئی هم سر ورته وښوراوه او هم ژبه. او بیائی سمدستی په جرأت سره یو اوښ سو که په یوه لښته پرورانه وواهمه او کرار ئی له ځانه سره داورته وویل چه: (هې-هې! ولې نه ځې) دیوولسو، یوولس نیمو بجو وخت به ؤ چه د پوونده وو کلی د چینو په غاړه په اړولو پیل وکړ. د کډواړو لو وخت ټولو پوونده ووته خورا خوږ او په زړه پوری دی. سمدلاسه ښځو د کېږدیو په درولو لاس پوری کړ، او ځینو ښځو داوبو ژی په سر کېښودل او داوبو راوړلو دپاره چینو ته لاړې، او ځینو کهی واخستلې او په بوټو وهلو ئی پیل وکړ.

(بنګ) هم خپل اوښان چه بارونه ئی ورځنی واړول دغټو خوا ته تېر کړل چه هلته په ځوځانو کښی وڅړی. د کاله میرمنې یو څه ډوډۍ ورکړه چه د اوښانو د څړ په وخت کښی ئی هلته وخوری. (بنګ) او ښان خو را ښه وڅړول او پر خورا ښو، ښو ځوځانو او ترخو (یو ډول دښتی بوټی دی) برابر کړل. ماښام ئی هم ښه ناوخته راوستل.

(ګاڼی) ددې پوونده کاله څښتن چه خپل اوښان ښه ماډه ولېدل ډېر خوشحاله شو او په (بنګ) ئی آفرین ووایه. (ګاڼی) دوې خویندې، یو زنګی ورور، یو مور، یو کوچنی زوی، او یوه ماینه لری، زنګی ورور ئی تل له رمې سره وی

د کډې د بارېدو د پاره ئی کوم مرستیال نه درلود . نو د(بنګ) موجودیت ورته ګټور ثابت شو، او ور باندی خوشاله شو، اودعه ئی دغیبی لاس معاونت باله، نودده دخوشحالتیا او رضائیت دپاره ئی هرڅه چه د لاسه کېدل هغه ئی کول . (کاڼی)خپلې ماینې اومورته توصیه وکړه چه: د(بنګ) احوال آخلی اوښه ئی ساتی چه خپه در څخه نه شی. مورئی هم ورته وویل چه: (داهلك خورا ښه زړه لری زمونږ مال داسې ګڼی لکه دده خیل چه وی . تل له اوښانو سره نو کان وهی اوسهار وختی هم کډه په راستۍ اوجدیت باروی .

بله ورځ دیوونده وو کلی د(قلات) او(جلدك) ترمنځ واړول ماښام (ډم) ډول وواهه اوپه داسې طرزئی وواهه چه ګوا کی سما کلی میشت دی، او نه کډه کېږی سهار معلومه شوه چه کلی په رشتیانه بارېږی . دلیل اوعلت ئی ذادی چه هغه څو کسه سوداګر راغلی دی کوم چه په ځینو وونده وو باندی ئی دوړیو روپۍ یاتې دی، په تېره بیا(کاڼی) نسبتاً ډېر پوروړی غوندی دی، (بنګ) ورځنی پوښتنه وکړه (کاڼی) ورته وویل چه: (په دې خبرو پسې سرمه ګرځوه، داتل همداسې حال وی. په ژمی مونږ پوونده له هرشی څخه خلاصېږو، یعنی شومه موخلاصه شی . کالی مو په کاروی نغده پیسه ورکه شی، نو په همدغه وخت کښی سوداګر خورا ډېری پیسی (ریګ) ته را شیوه کړی او زیاتره خلك دډېر مجبوریت دلاسه له دوی نه روپۍ په وړیو باندی د (سلم) په ډول اخلی، البته ښکاره خبره ده چه دنرخ په باب کښی خوخوله دسوداګر وی، اوهرڅه چه دوی ووائی مونږ ئی منو، خو ته پوهیږی چه په پسرلی کښی چه لاس ؤپښی آزادی شی اوسکولو نه وشی، دژمی تعین شوی نرخ خورا کښته وی

اومونږ دخپلو وړیو یوه برخه په آزاد نرخ خرڅه کړو او نوری ئی مجبوراً سوداگرونه دخپل (سلم) په حساب کښی ورکوو سوداگرتولی وړی راڅخه غواړی خومونږ ځکه چه یوه برخه مولا پخوا خرڅه کړی وی تولې نشو ورکولای. نودوی عرضونه راباندی وکړی او کله نا کله دا معاملې اودعوی گانې خورا اوږدې شی، اولوی لوی تاوانونه راورسېږی. خدای دې وکړی چه دا اوسنی وضعیت پسې اوږد نشی او سرگردانه مونه کړی.

وروسته له یوڅه ځنډ کولونه ئی بیا وویل: (بنگه) وروره! زه غواړم له تانه دیوشی تقاضاو کړم ځکه چه تا داسې بولم لکه د خپل کاله غړی. که چېری زه محصلانو بندی کړم او غوښتل ئی چه ما (قلات) ته بوځی او ته به دونه ښه راسره کوی چه زما تر راتنگه پوری به له کوره نه ښوری حتی که کډې (قندهار) ته هم ورسېږی بیا به هم ته مونږ نه پرېږدی او سیخ به له کډوسره (ریگ) ته درومی دا بایډ درته ووایم چه زه به ستادغه نیکی ترمرگه هیره نه کړم او په هره توگه چه ته خوشالېدې هم هغسې به دې خوشاله کړم.

دا معمول دی چه په داسې معاملو کښی څوکسه سوداگر په مبهم ډول عرض کوی او دمربوطی ځانگی یوڅوکسه محصلان ددوی په اختیار کښی ږدی چه هرڅه عارضینو ورته وویل هغه کوی او هرڅوك چه ئی په لاس ورکړی هغه کش کاږی او پیسی یا جنس ورځنی تحصیلوی تولو سوداگرو خپلې خیمی به یوه غټه (لوړه) باندی ودزولې او دهر پوروړی په نامه ئی رقعې ولیکلې او دمحصلانو په واسطه ئی جلبول یو سوداگر حواله دارته وویل چه: (که مو له دې ناروا او ظالمانو څخه خپل حق تحصیل کړنو وبو هېږه چه هر یو محصل ته به د) گوړې زین) جوړ کړم.

صاحبا! که خدای کول داسې څه به درته وکړم چه ته پخپله ورته حیران پاتی شی . . . صاحب ماته ستاسی دټولو دشرافت دینداری او خانزاده گی په باب کښی ئی پوره ویلی دی اوراته امرئی کړی دی چه په هره توگه چه وی ستاسی لاس له دې ډبډولو خلکو څخه وکاږم دوی خو به پروت په لاړ ندی بنداو نه په دې پروا کوی چه څه خوری او څه کوی؟ ټوله ورځ لکه لیوان په غرو اورغو کښی گرځی دانسانانو اوښو خلکو قدرندی ورته معلوم ! .

یو سپین ږیری سوداگر چه په (حاجی آغا) مشهورؤ دحوا له دار له دې صمیمیت او خدمتگذاری له فکر څخه خوراخو شحاله شو اوسو که ئی وویل چه خدای دې دحاکم صاحب سیوری زمونږ له سر څخه نه کموی، ډېر قدردانه سړی دی دهر چا قدر او عزت دهغه په اندازه ورته معلوم دی، تل دحقدار حق ورتحصیلوی او ډېر دلحاظ او پاس والا سړی دی .

(دحاجی آغا) دخیمی له څنگ سره یو جو مات جوړ شو، اوهم دتحصیلی اجراآت دده دخیمې له مخه کېدل، په یو بونیم ساعت کښی ټول قرضداران راغونډ کړی شول او قطار کښېنول شول .

(حاجی آغا) تک سپین کالی اغوستی دی، او په سپینه خولی باندی ئی دسپین وریښمین پاج پگړی خوراښویه تړلې ده، داسې ښویه ده ته به وائی چه په سوان ئی سوان کړې ده، دی چاغ دی خو په ولـه دومره لوړ نه دی، له دی جهته په ډېر تکلیف کښېنی، په تېره بیا چارزانو خو کښېنستلای نه شی او تل ئی لنډی غونډی پښی ترمخ ورته ایښی وی له هرې خبری او سا کښلو سره ټوخېږی او په دغه وخت کښی ئی ستر گی غټې غټې راوخېژی، اوزبا تره اوښکی ترې

جاری شی دده پیش خدمت اکثره وخت دده شاؤخوا ته په گونډ وناست وی او دده اوږی ورو، ورو ور کښی کاږی سپینه تکدانۍ ئی ترڅنګ پرته وی، کوم وخت چه (حاجی آغا) هغه د گروړی دتو گلو دپاره وروانه خلی اویا ئی په وراخستلو کښی یو څه ځندو کړی، نو پیش خدمت هغه په چالاکۍ سره ورپورته کړی او دده خولې ته ئی ونیسی اکثره نور دوړ بوسودا گر هم شاؤخوا په نیالیو گښېنا ستل، هر ډول خلك پکښی دی، چاغ، تنډنسی پنډمزغی والادی خوځینی زلمیان ئی بیالږ څه ډنګر دی، مگر یوشی دتولو مشترك دی او هغه دادی چه هر یو ښه ښه کالی اعوستی وی او مخونه ئی بریښی.

دسوداگرو موټران چه شمېر ئی له څلورو پنځونه زیات ندی په عمومی سرك باندی ولاړ دی. او موټر وانان ئی پردووتلو ورته ناست دی، اویا په یوخیرن صافی باندی دخپلو موټرانو بانټونه اوبامونه پاکوی. موټران دلمر په وړانګو کښی عجیبې شغلې کوی تو له ډله دپو ونده وو خان ته معطله ده په هغه پسې ئی سړی لېږلی دی چه ژر راشی، او ددغو جنجالی معاملو په فیصله کولو کښی مرسته وکړی، دغو نه وو چه خانصاحب راغی او ټول ورته ولاړ شول، خان دسوداگرو سره په لاس روغبړو کړ، او د (حاجی آغا) په بلنه د حاجی آغا په څنګ کښی کښېناست، په داسې حال کښی چه خانصاحب دیو لیری غره په څوکه کښی سترگی ښخی کړی وی او پخپلو بریتوئی ورو، ورو گوتې وهلې حاجی آغا لومړی په توخی پیل وکړ او بیائی وویل چه: تاسو حاضرو کسانو ته پوونده ووایم- کوچیان ووایم- مسلمانان ووایم- او یا بل څه؟ هر څه نوم چه تاسی خوښوی؟ په هغه به مو وبولم

کوری ء! کوم وخت چه مو له لوزی پرنس درد وی- کوم وخت چه مو کوچنی او
اوی مو اوخی خپلی شی او یا مو په گدا او کښی دسپیڅو رمي بهیڅی هغه وخت نو
راشی او پر وریو باندی دپیشکیو روپو مطالبه کوی . د خپلي ښي معاملي
دپاره قسمونه او قرآنونه خوری- تر قسمونو لاندی شی- طلاقونه اچوی- خوچه
زمر نیز دسودا گرو زړه درباندی وسوځی او په وریو پیسی در کړو، کار مو
درو چلوو، او ستر گی مو نهامی شی، نو بیا هغه تولی نیکی او هغه توای مرستی
چه مو نیز درسره کړی وی هغه مو له یاد نه ووځی په نس چه ماړه شی او تر زمی
ځان و باسی نو خپل قولونه مو هیر شی او خپلي وری په جگه بیه په بل چا باندی
خرڅي کړی. د خپلو دینداران و حق مو له زړه څخه ووځی، مو نیز دی نه اړ کړی چه
په غرو، رغو کښی در پسي منډی ووهو. تاسو باید په دی پوه شی چه که د عه
سودا گره طبقه نه وای، ستاسو به څه حال وو؟ له کومه به مو یو قران موندلی،
چا به تاسو ته دومره په زرها وو روپی پیشکی در کولای ښکاره ده چه مو نیز ته
خدای (ج) وس را کړی دی چه ستاسی د گټی- هوسائی- او آرامی دپاره مرسته
و کړو- نو تاسو باید ناشکری و نه کړی، او تل زمو نیز دسودا گرو زړه په لاس کښی
و نیسی، چه بیا درسره معامله و کړو، نه مودی اور بدلی چه وائی (ښه معامله بیا
معامله- بده معامله بس معامله)

(حاجی آغا) بیا تو خی پسي واخست او وروسته له هغه چه په تکد، نی کښی
ئی خپلي غاړی تازه کړي بیائی وویل چه: (اوس هم واك ستاسی دی، که خپل آب
درباندي گران وی، او دځان سپکه نه غواړی خپل حق تر ځان راتیر کړی چه
هم مو ددی جهان گټه وی او هم مو دهغه جهان . نه مودی اور بدلی چه دمومن ورور
حق ور کول په هغه جهان خورالوی عرضونه لری، او که مو بدرانه په زړه کښی وی

دپښتو ټولنې دتیر کال خپرونې

۱: لوړ خیالو نه اوژور فکرونه

۲: داور لمبې

۳: پښتانه داقبال په نظر کښې

٤: منطق

٥: افغان قاموس

٦: پښتو نثر ونه

۷: پریشانه افکار:

۸: نړۍ په دوه زړم کال کښې

۹: افغان قاموس دوهم ټرک

۱۰: دحنان دیوان

نوی چاپ شوی کتابونه

۱: پښتنې دودونه

۲: غوره نثرونه مؤلف ښاغلی الفت

کابل مجله

تاسې کولای شئ چه په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په د ننه هیواد کښې په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په ۱۲ کلداری په نورو د باندنیو هیوادونو کښې په (۳) ډالره لاس ته راولئ

دښوونځیو زده کونکو ته په نیمه بیه.

دیوه کال داشتراک دپاره په کابل کښې همدغه بیه دپښتو ټولنې دمحاسبې مدیریت ته اوپه ولایاتو کښې دهمدې مؤسسې دجاری شمېر په (۷۸۷٥) لمبر افغانستان بانک ته سپارل کېږی.

دولتی مطبعه

انعکاسات

د طلوع افغان و رځپانۍ په خپله ۳۴ ګڼه کښې دپښتو ټولنې وغړو دپاره دعلمی اومسلکی مدارجو تاکل ښه بللی دی اوپه دې لار کښې ئې دپوهنې دو زارت دا اقدام دقدر ووړ بللی دی- دا ورځپاڼه دپښتو دا کاد مۍ دپاره داډول درنه کتنه دډېری خوشالۍ باعث ګڼی او دخپل مهربان حکومت داپښتو او پښتنوا له پالل دټول پښتون ټبردزړونو دډېری رضا موجب- دې ورځپانی په هره ګڼه کښې ډېرمطالب ښکاره کړی دی چه مونږ ئې دلته صرف یادو کړ.